

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان «خادم»
د «روهي ګاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو نمبر ( ۷۱ )

# روهي ګلونه

مؤلف

قيام الدين « خادم »

دپښتو ټولنې ددائرة المعارف دترجمې دڅانګې مدير

۱۳۲۵

دکابل

عمومي مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېړی

بلبلان پسی ناري وهی رحمانه ! دبهار گـلو نه شو يدی که نه دی ؟

«رحمان»

* * *

دسو ندك مو ندك سپلی اخری كيبزي په بلبلو زېړی و کړه : بيا بهار دی

«خو شحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟

دبـلـبل يا دبو را زده

«خوشحال»

تقریظ:

# روهی گلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړېدلی
سترګی وخوره چه‌به دا ننداره نه کا
( خوشحال )

دابنکلی ګلونه چه دښاغلی خادم په زیار راغونډ شوی دی او دپښتو ادب مینانو ته دسوغات په توګه وړاندی کېږی ، هغه ګلونه دی چه پښتنو دپخوا نیو شاعرانو دزړه په وینو روزلی شوی دی.
ځنګه چه تراوسه پوری دپښتو ژبی په ادبیاتو کښی داسی یو جامع منتخبات نه و ، او ښاغلی خادم (چه دپښتو یو پیاوړی ادیب دی) په دې کارګوټی پوری کړی او بریالی شوی دی ، نو پښتو ټولنه داخپله وظیفه ګڼی چه ددی فاضل دادستایلو وړ خدمت وستایی اوپه دې انتخاب ده ته تبریک ووایی او هم په دې ګلونو سره دهغو پردیسانو روح ښاد او یاد کړی چه دوی به د خوازه وطن په بېلتون کښی ویل :
قاصدان له روهه نه راځی مدت شو
سلام باد را رسوی منت ئې تم دی

او له خدایه غواړی چه داسی ډېر آثار پښتنو ته وړاندی کړی .

( عبدالرؤف « بېنوا » )
دپښتو ټولنی عمومی مدیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا د رنګ رنګ تا زه ګلونو دسته هغه چانه به مخکښې زدم چه تر هر چا اوتر څه دروه په ګلانو مین دی !

دشا هانو ور کړه لعلو چواهر وی     دادب دخاوندانو ؛دزړه وینی

« خادم »

بسم الله الرحمن الرحیم

داوې ښښتن حمد اوثنا وايو . او دده په هغه استازي چه ترټولو غوره دی ؛ او په آل اولاد ئې، درود لېږو او ددې شکر کوو چه په لږه موده کښې مونږ دخپل ملت (پښتو او پښتو نولی) په خدمت کښې «چه زمونږ دمشرانو او خصوصاً د ګران ټولواك اعلیحضرت محمد ظاهرشاه رضامندی هم په دې کښې ده»
خومره چه کېدی شوه دهغې نه ډېر کامیاب شو. یعنی په کوم وخت کښې دپښتو خدمتګارانو زیات آثار ولیکل؛ چه لږ له دغو څخه چاپ شوی دی ؛ او ډېر لا پاتې دی په فرصت کښې به چاپېږي او دذوق خاوندانو ته به وړاندې کېږي .

یو له دغو آثارو څخه چه دپښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیا لیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهی ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب دډېرو پخوانو هغو شاعرانو داشعارو انتخاب دی ، چه نن يې آثار ډېر لږ کېږي . دا اشعار او ددغو شعراؤ دیوانونه مایه ډېر کوښښ پیدا کړیدی . او په ډېر زحمت سره مې ترې دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول او ترتیب کښې دنورو ژبو دیوې ، انتخاباتوته هم نده ورته .

او داله دې کبله چه دپښتو شعر او ادب ځانته روح او ځانته لاری لري . مادغه روح او دغه اسلوب په نظر کښې نیولی دی ؛ او هغسې مې د کتاب دترتیب نقشه جوړه کړېده . او بیا مې دا کتاب لیکلی دی ددې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره داده چه دتهجی تورو یادر دیف او قافیې په لحاظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع او معنی ته زیات اهمیت ورکړی شوی دی ، نو هر څومره چه دا مجموعه یوه ادبی مجموعه ده ؛ او دا دادب او شعر دنزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده ؛ هغومره دژوند او زندګۍ داسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره دپخوانو کلاسیکی شعراؤ شعرپه شپږو بابونو ویشل شویدی چه په هرباب کښې فصلونه دی ؛ او په فصلونو کښې هم ځانته ځانته عنوانونه دی . او دهر عنوان لاندی د مختلفو شاعرانو اشعار لیکلی شویدی . امید دی چه دقدر دانانو په نزد به زما دا خواری ځای و نیسی؛ او په درنه سترګه به ورته وګوری !

کابل - تسند وز سازی - قیام الدین خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه، لویه خدایه! — ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کښې — ټوله ژوی په ځاری کښې
دلته دی د غرو لمنې — زموږ کېږدی دي پکښې پلنې
داو ګړي ډېر کړي خدایه!
لویه خدایه، لویه خدایه!

دلته لښ زموږ اوربل دی — وږ کوږ ګی دی، وږ بورجل دی
مینه ستا کښې مونږ مېشته یو — د بل چا په مله تله نه یو
هسک او ځمکه نغښته ستا ده — د مهر و وده له تا ده
دا پاللنه ستا ده خدایه!
لویه خدایه، لویه خدایه!

« بیټ بابا »

❀ ❀ ❀

پر لویو غرو هم په دښتو کښې — په لوی سهار په نیمو شپو کښې
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښې — یاد وېر ژلیو په شپېلو کښې
ټول ستا د یاد نارې سورې دي!
د ستا د مینې ننداري دي!

جنډی زرغون که په بېدیا دی — د ډېر بڼ خواته په خندا دی
ترنګ چه خړدی په ژړا دی — دا ټول اغېز د مینې ستا دی
ټوله ښکل دی ستا له لاسه
ای دپا سوالو پاسه پاسه!

که نمر روښانه مخ یې سپین دی — یا د سپوږمۍ تندی ورین دی
که غر دی ښکلی پرتمین دی — لکه هنداره مخ یې سپین دی
ستا د ښکلا دا پلوشه ده
دا یې یو سپکه ننداره ده

---

لغات: هسک آسمان. مېشته: ډېره. ځاری: عجز. جنډی: ګل. ترنګ: دیورود نوم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته لوی غرونه زرغونیږی      دژوند وږمې پکښې چلیږی
بوراوې شا وخوا کړیږی      ستړ گی لیدو ته یې هیښیږی
لویه خاونده دا ټوله ته یې
تل دنړ ی په ښکلیدو یې

خاونده! ښکلی ستاجمال دی      ښکاره یې لوریه‌لور کمال دی
که‌ورځ که‌شپه که‌پیړی کال دی      ستادقدرت کمکی مثال دی
ستا د لور ونو یوه ر ڼا ده
دلته چه جوړه تما شا ده

زړه مې داستا دمینې کوردی      سوی دعشق په‌سوځندا وردی
رب یې وتاته په هر لوردی      بیله‌دې هیڅ‌دی‌ورك یې پلوردی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نه‌وی‌دغه نور بر باد دی

په‌غرو کښې ستادعشق شپیلکی دی      ددې نړ ی په عشق سمی دی
که‌غټ که ووړ که‌پنډه نری دی      ستا د جمال ځری هر شی دی
چه‌پر دنیا مې ستر گی پرې شوې
ستا دجمال په ننداري شوې

نه هسك نه مځکه وه تورتم ؤ      تیا ره خپره وه ټول عدم ؤ
نه دا ابلیس نه نې آدم ؤ      ستا د جمال سو چه پر تم ؤ
چه‌شو ښکاره ښکلی دنیاشوه
دېنځ پر لوری یې ر ڼا شوه

زه چه‌څر گند پردې دنیاشوم      د ښکلی مخ په تما شا شوم
ستا پرجمال باندې شیداشوم      له خپلی ستڼی را جلا شو م
په ژړا ژړام چه بیلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وگړیو ، ولې «متی» ژاړی      سورې یې اوری‌غاړې غاړی
څه‌غواړی،څه‌وایی، څه‌باړی      خپل‌تون‌او کورو کلی غواړی
چونه‌ی چه بیل‌شی‌نیمه خواشی
تل یې دبڼ په لو ر ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

لغات ـ هبښ : حیران ۰تون : ځای ۰ چونه‌ی : بلبل ۰ بڼ: باغ

الهی ! د محبت سوز و گداز را
تن پرور بلبل دي عیش کاندی پر گلو
که مي نزموبی په ویاړ دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی و چا ته نه کا
چه مي نوی سر کوزی چاته بي ښکلیو
اضطراب د حرص مي کړي له زړه گی اري
که مي نه فاشوي سرزید و عمر ته
خو به گورم د قیامت و ورځو شپو ته

چه خپل بر گئ په آب د چرخ نکرم سر سبز
چه مدام وی په چشمه د آفتاب ولی
چه کباب یي په گرمی ، زما ځیگر شی

چه بلبل یي و دیدن ته انتظار کا
که مي نه محتاجوي د صبا باد ته
سرخرو یي زما نصیب لکه لاله کړه

په اوښو کښي یي د کاملی گوټ پیدا کړ
په سجود یي مځکي سردی لگولی

الله مي رب دی زه یي مربوب یم
غرق په اوښو کښي کله اوبه وینی

دده په حکم با لا پستی شی
نه تل بهار وی نه تل خزان وی

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاده د منکر تر سره پر بوځی
چه کشور د افغانا نو معطر شی
الهی ! د خپل حبیب له بر کته

په دااور کښي دستی(۱) سمند رسازرا
پروانه لره په اور زما گداز را
می د عیش په میخانه کښي د مجازرا
د هغو بیمارو ستر گو نازو نیاز را
له دولت د عشقه هسی کبرو ناز را
قناعت قوی لنگر دد ي جهاز را
خپل زانو لکه نرگس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښي د آغاز را
«عبدالمجید مهمند»

د همت علو ښان د کهکشان را
د سحر ښان درست عمر سپین دامان را
د لاله غوندی په جام مئی جوشان را
کاظم خان «شیدا»

تن و ماوته گلشن د هغه باغ را
بوی د یار د تورو زلفو په دماغ را
پرسینه له محبته هسی داغ را
«شمس الدین کاکړ»

ده ورکړی پکښي اورلره مکان دی
هم یي زوړند په رکوع سره آسمان دی
«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده یم که خوب نا خوب یم
نعمت یي نه وینم په نعمت ډوب یم
«عبدالقادر ختك»

مستی خمار شی خمار مستی شی
هستی نیستی لری ، نیستی هستی شی
«خوشحال ختك»

د شبنم په څېر یي عمر یوزمان کړي !
د فلك په څېرمي توره د زبان کړی !
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبانکړی !
دا : ساده انشار نگینه د رحمان کړي !
«عبدالرحمن مهمند»

(۱) په اکثرو نسخو کښي د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خومونږ یي په معنی نیوهښږو «خادم»

روغتیا کلونه (۵۲۵) ب سردار محمد : ج سراج الدین : ر محمد الامین : ن محمد نعیم : ه اجرائیه پښتو ټولنه لیل ۱۸ : ۸-۲۰-ع

الهي د مينې دردرا — كرم دل آهو نه سر درا
خلاص كړه ما له بې دردۍ — له دې هسې د لسر دۍ
زړه په شان د غنچې را كړه — آتشي زما مينا كړه
«كاظم خان شيدا»

پر هر چا چه حق ياد نشي ناتمام دی — پر كاغذ اول دده پښام قلم ږده
«دوات لواڼی»

## ب : داستانې په مينه

كه رڼا ده پيروي د محمد ده — كڼه نشته په جهان بله رڼا
«عبدالرحمن مهمند»

ړندې ستر ګې چه دزړه مې پرې بيناشوې — پيدا يې د محمد آخر زمان خوښ
«عبدالعظيم رانيزی»

توره تاريكي تو له لدې جهانه لاړه — نوردپاك رسول چه په جهان كښې شه پيدا
«ميانعيم متی زی»

ما مختار يكښې مذهب د حنيفه كړ — چه مختار ؤ خود په ستورو كښې مهتاب
«پير محمد كاكړ»

راغلم ووجود ته د حبيب له بركته — شوم لكه ذره هسې په نمر سره اظهار
«پير محمد كاكړ»

توره تاريكي تو له له دې جهانه لاړه — نوردپاك رسول چه په جهان كښې شو پيدا
«ميانعيم متی زی»

پسه زر ګونو انبياتر دنيا تېر شو — محمد غوندې بل نه ؤ پيغمبر هيڅ
«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسې يې ګرځم دا زيړ رخسار له خلقو — لكه زر چه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی
راحت نه دی بې زحمته چا موندلی — كوم طبيب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی
زه هر ګوره خپل صنم پورې شرميږم — برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی
وآسمان ته لاس د عقل نه رسيږی — داخو عشق دی چه په عرش كرسی قدم ږدی
«عبدالرحمان مهمند»

که د سرښندل دشوار په ما و تا دی　　دا په عشق کښې سهل کار دی دشوار نه دی
اندېښنه سری بیدار کاندې له خوبه　　کم اندیشه که بیدار دی بیدار نه دی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کار دې د سر و شونډو شیرینی وی　　د خپل ځان په وینو سور لکه انار شه
د رحمان په عاشقی کښې سترګې وشوې　　ځوک چه وایی عاشق ړوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نفس له خاصیته منزه دی　　کار د ستر ګو به ځوک څرنګ په دها نکا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت د یار په مینه کښې رب کېښود　　چه عاشق لره همدرد او همدوا شوه
دا باران نه دی چه اوری له آسمانه　　د مرغانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی زر داغونه جوړ شی　　چه دیار له داغه آه کا هغه ګرم دی
«خوشحال خټك»

زه تر عشق جار ېږم : تر هغو چه عاشقان دی　　واړه عشق یکار دی حقیقت دی که مجاز دی
رایشی له کومه ځای به څوو کا په زړه کښې　　هیڅ پری نه پوهېږم عشق یو څه سوز و ګداز دی
هی دخدای دیاره تفحص رایسی مکړه　　بلارته وایه نشی عشق یو هسی مخفی راز دی
« خوشحال خټك »

عاشقان دعشق له کاره انکار نه کا　　فاسقان به په خپل زړه کښې لری غلا
« خوشحال خټك »

ځینې هوس کامینه په باغ لری　　ځوك می پسر سته حب دا باغ لری
داد واړه ګرو هسه بوالهوسان دی　　عاشقان مینه د زړه په داغ لری
« عبدالقادر خټك »

لیونی غوندی دعشق په کار و بار کښې　　د خپل ځان په سود و زیان نه یم هرګز
« عبدالحمید مهمند »

که هر څومې تند تېزه توسن دعقل　　عاقبت شو په دنبال د مینی پیاتی
« میا نعیم متی زی »

دعشق یو سبق کافی دی　　نور د درست جهان دفتر هیڅ
« صدرخان خټك »

عاشق ګرم او شوقی وی　　زاهد سوړ بی حمیته
چه دعشق په لاره درومی　　خالی ندی له تهمته
« دولت لوانی »

خام خاطر مې مشوش و په هجران کښې          چه تمام دعشق په اور وسو متین شو

«دولت لوانی»

معرفت ځنې پیدا شو          عشق د عقل پلارو مور دی

«مرزا خان انصاری»

دغه عقل چه په عشق با ندې شیدا شو          دعرب په مینه گوره چه عجم مری

«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی          ودریاب ته ځی که سیل له هر جا پاڅی

« مرزا حنان»

په هرداغ مې دخپل زړه هسې باوردی          چه په مرگ به راته شمع شی په گور کښ

« عبدالحمید مهمند»

که شهید نکړی خپل ځان دعشق په توره          نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی

« عبدا لعظیم را نیزی »

دسیماب په شان په لاس کښې نیوی نه شم          عشق را هسی گرم هم نرم هم لطیف

آئینې غو ندی هر و لی هر نا و لی          شی مهمان ځما په کور کښې بی تکلیف

« شمس الدین کاکړ »

هر یو زړه چه شی پیدا غه پکار نه دی          چه بی مهره شی ابرات هغه با طل دی

« مرزا حنان »

ته دعشق په لذتو نو خبر نه شوې          په سراب دځان مشغول کړ ، له دریابه

هغه چاری چه دعشق په جذبه کېږی          کله کېږی په لښکرو په افواج

« خوا جه محمد بنگښ »

جریده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه

بی رفیقه ، بی پناه ځم ، پناه نه لرم بی عشقه

هرساعت چه بیلتون یاد کړم په خپردادو فریاد کړم

څکړم چاو ته فریاد کړم ، نیکخواه نه لرم بی عشقه

مدام غوښې د زړه خورمه ، دزړه وینی به تل څښمه

څکړم څکړم چرته ځمه ، همراه نه لرم بی عشقه

معتقد پدا خپل رزق یم ، مبرا په زړه له فسق یم

واړه سرتر پا په عشق یم ، یو گناه نه لرم بی عشقه

دافقیر دولت نفسی یم ، و گناه ته هوسی هم

خدای مې بیامرزه عاصی یم ، گناه نه لرم بې عشقه

« دولت لوانی »

عشق دی دا که پوفساد دی نه پوهېږم          په جهان کښې چه د اشورو شر پیداشه

پیا به روغ دعاشقی له رنځه نشی          په هر تن کښې چه د غه اثر پیدا شه

« عبدالرحمان مهمند »

باد شاهانو که قصرو نه کړه آباد　　ماد عشق عمارتونه کړه آباد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسې یادېږي　　لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسې پیر استاددی　　چه به نه دی بل دا هسې پیر استاد
دغه واړه کرامت د عاشقۍ دی　　چه څوك غوث کاندي، څوك قطب څوك اوتاد
« عبدالرحمان مهمند »

درحمان شراب له عشقه　　نه انگور (۲) نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

عاشقي ده خدای له اوره پیدا کړې　　چه په اور کښې یې وطن وي څه به خوب کا
« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کوکل ستر ګې په نم کښې　　عشق راوښود بحروبر په خپل حرم کښې
« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنګه ژوندون دی نه پوهېږم　　خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم
د ښکلو او دبلبل ترمینځ حیران یم　　مخ دې اور دی که ګلګون دی نه پوهېږم
عشق په هسې رنګ مقام باندې قائم کړم　　چه وصال دی که بېلتون دی نه پوهېږم
درحمان څهره یې زېړه زعفراني کړه　　خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم
« عبدالرحمان مهمند »

خودځر ګندوي لکه صبح په جهان کښې　　هر ګوهر وان چه په یاری کښې دریده شي
بې مطلوبه یې هیڅ فهم په چا نه وي　　هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شي
یا په قند یا په نبات او یا په شهد وي　　هر کلام چه له رحمانه شنیده شي
« عبدالرحمان مهمند »

سر اومال مې شو تالا په تور د عشق　　لا مې ندی لاړ له سره شور د عشق
« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقي کړه　　پوهېد لی په تدبیر وم د تدبیر کېچ
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې　　د دغه طبیب دارو لري تاثیر کېچ
راهبران دعقل واړه رهزنان دي　　لږ د عشق له لارې مه بیا په بېهر کېچ
« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښې ناست ولاړ زانګم له غمه　　مینې مخ راته د ځمکې ګهواره کړ
« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وې نا صحه !　　دا عبث دی پول د سحر په دریا ږدي
« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشي　　په دې ناوې نه جوړېږي پسول د چا
« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) دانګور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی ، د جمله ؤ مخلوقا تو پلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته ، تر همه کارو نو غوره کار دی دا

« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سر گردان په جهان نه وی ، یا عاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ژ غوري سرومال په عاشقی کښې ، عاشقی دا هسی کله ده ویړیا
چه یی کسب عاشقی ده د دلبرو ، نظر نه کاندی په کسب د کیمیا

« عبدالرحمان مهمند »

بیدردان دعشق له درده خبر نه شول ، براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم

« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که او ر دی دا ، یه اور سوزم په رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راځخه نه ځی ، واقعی د تورو ستر گو تور دی دا
چه یی زه له بله غمه په امان کړم ، دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه می ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې ، لیونی د مجنون کشر و رور دی دا

« عبدالحمید مهمند »

یاد ښکلیو دپا ولیو شرنګها ر دی ، یا د عشق د لیونیو د ز نځیر

« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق په لاره گران دی ، دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك

« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یی رهبر پیر کامل دی ، عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا

« مطیع الله پیرخیل »

آرام زده په عشق کښې نشته سرله سره ، خوب محال په هغه ځکه چه توده شی

« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینې نه وی باندې شوی ، هغه زړونه گویا کانی د بیدیا دی

« ملا جمعه »

# غزلیات

که څوك يار په جهان غواړي يار دی دا
يار دی دا که دجهان سنګار دی دا
خيال دز افو يی زما لـه زړه چا پـيـر شو
که تر ګنـجـه چا پـيـر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدا ی له عشقه پيـدا کـړی
د جملو ؤ مخلو قا تـو پـلا ر دی دا
تر عشق غـو ره بل څه کار په دنيا نشته
تر هـمـه کـا رونو غـو ره کـار دی دا
بل بـلـبـل بـه د ګـل تـوم ا خـستـی نـه ؤ
که خبروی چه ګـل نه دی خار دی دا
بيـا را تلـه و دی جهان ته بل وار نشتـه
بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمر دي و ګـو ری چـه څـه دی
که څوك شمار کـاندی دعمرشماردی دا
د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره
ستا په عشق کښي هسی خوار زاردی دا
« عبد الرحمن مهمند »

چـه يـی و لـيـد و ستـا حسـن بـیـحسا ب
له دي قصد ه تـاو پيدا شو د آفتـاب
په آرزو يي دنرګس ستر ګی څلور شو ي
غنچه سره دزړه په وينو شوه غرقاب
ستاپه غم می دواړه ستر ګي سري ناغي شوي
که خيمی د ی سياه پوشي سره طناب
که دي زلفي په مخ پيچ و تاب شوي ښايی
وبښته څه طا قت لر ی د اور له تاب
در حمان بخت بـه هلـه له خوبـه ويـښ شي
که ستر ګي ورته پورته کړي له خواب
« عبدالرحمن مهمند »

کـه ساقی تـلـخـه بـا ده در يا ی شور کـا
د فلـك په جام په مست کـله مخمور کـا
آرا ستـه وی تل محـفـل د خنـد ه ر و يـو
زمانه په د ګـل جام څرنګه نسکور کـا
چه په لاس کښي يی تل چوب لـکه شانه وی
بی افسونه به نيو ل د تور منګور کـا
د لتنګی کـړم لـکـه ګـل پـه خنـدا ور کـه
کـه می بل دصبا باد په خونه او ر کـا
چه په سريی سبز آسمان زری دستار زدی
عا قبت يی لـکه شمع بيـا سر تور کـا
لـکه ګـل کـړی ګـران بـا ر تـو دا منـڅی
باد دي څه لـکه غبار په کتف سور کـا
« کـاظم خان شيدا»

کـه ښکـا ره زما خا طر د لاله داغ کـا
په ژړا به ستر ګي سري د ګـلو باغ کـا
د حباب غونـد ي مي دك پـه آه سرد کړ
څوك زما په ګور به بل څرنګ چراغ کـا
افرو ختـه يو و ی محـفـل پـه شان دشمـع
چه سوخته دبل په کـار کښي خپل دماغ کـا
د ګر دش نـو بت يی هيـڅ په ما د ا نشی
که سا قی د ز ماني ، فلـك ا ياغ کـا
ز نګـه که هر کـله «شيدا» دتيغ جوهر خوری
دمګس په بال به څرنـګ استفراغ کـا
« کـاظم خان شيدا»

چـه مـی وليـد ه ا بـرو پـه مخ ديار کـج
له تعظيمه ور ته ژه شوم په تـلوار کـج
کبرژي ورو ځی کوږ با نه کبرژي يی ز لفی
منا سب دی له کبرو سره رفتـار کـج
مار په دا سبب مـد ام کـمر قتا ری کـا
چه يی وليد ه دا ستا د زلفو مار کج

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې زړ را خلی اتر له همنشینه
چه معما ري اول خښته کړه کښېږدي
ژړبه وا چوی یار دار چار پای په ښا کښ
هیڅ جواب د پیغام نه راځی دیاره

خوږ ژوندون راپوري هسی کړ هجران تریخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد وه دی
په وصلت کښی له رقیبه نه خلا صېږم
می حرام دی په مجلس کښ چه یار نه دی
چه می نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست
که فرهاد ته شیرین غم د شیرینی دی

چه می یار ولید په سینه د اغیار رګه
د غه حق د بلبلا نو په جا نب دی
په امید د زلفو و نښتم په دا م کښ
ددیدن په ګدائی کښې می ننګ نه شی
د وفا د ګلو پیا نی پکښې نشته
زه رحمان ئی د فردوس له غمه خلاص کړم

دا تور خط راغی په مخ د ګلعذار
سپین رخساری په تورخط کښې هسې پټ شو
زما نه به بی سپین مخ دا هسی تور کا
هر کارساز نن په خپل کار کښی درمانده دی

او ښو د فراق دستر ګو خواب را خښه یووړ
رنګ په رنګ ژړا کړم لکه نی دیار لغمه
نه مي را برسېره کړ ګوهر دعشق له بحره
تل چه یې هوس کاندی سره لاس وخونریزی ته
یوطرف ساقی شو بل طرف شو جام دمیو
وا چولم یار د جدائی په سره دیګ کښې
هیڅ یې نظرونه کړ زما وخاکسارۍ ته
سینه خوله دیار چه په خواست زه شمس الدین غواړم

په سبب د کنزي پښي شي سم بازار کږ
بیا تر سره پوری ځی هغه دیوار کږ
که یې یو ځله خوك وشکوی مهار کږ
پسی زما شوه تورلیمه په انتظار کږ
« شمس الدین کاکړ »
لکه حال وی پر بند یا نورد زندان تریخ
پرسبزه باندي نا وخته وی باران تریخ
پرموسم د ګل اوقات شی دباغبان تریخ
بی له ګله وبلبل ته شی بوستان تریخ
لا تر او سه می په هغه دی دهان تریخ
داستا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ
« مرزا حنان »
له غیرته می لیمه شوه په خو نبار ګه
خدای دنه کا مبتګیر کم په لاله زار ګه
رو هیلی وم ساده دل په هندو یار ګه
د رو یږ ګریم د بتا نو په با زار ګه
کاشکی نه وی زه ددهر په ګلزار ګه
چه په کلی په کوڅه شوم د خپل یار ګه
« عبدالرحمن مهمند »
که غا لب شوه په کشمیر باندی کفار
لکه پته چه معنی وی په اشعار
چه غرض اری د بل په کا رو بار
اوبه کله وهدای شی ګرځ دخپل رخسار
« شمس الدین کاکړ »
کور زما دصبر دي سیلاب را ښخه یووړ
زړه مې په یوه نفس احباب را ښخه یووړ
زیات یې لاآرام لکه حباب را ښخه یووړ
سري دهغو ستر ګو قصاب را ښخه یووړ
عقل یې له میانه په شراب را ښخه یووړ
روح یې زما دځان لکه ګلاب را ښخه یووړ
زړه مې سیا چشمو په شتاب را ښخه یووړ
خواست دهري ورځي دمخ آب را ښخه یووړ
« شمس الدین کاکړ »

زما زړه گوره چا یووړ
په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه د ی شوبی ارامه
چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم
زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر گو
سیلا بو د ژړا یووړ
خه بازار چه مي د زړه ؤ
ښن ستاحسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنگړ
ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نه کړم
زړه بیوا که شها یووړ
قراري دزړه مي نشته
بیقرار زلفو ستا یووړ
داتمام عالم ښادي کا
احمد غم دا شنا یووړ «احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افگار ساتم همیش
هسي په سینه کښي گویا مار ساتم همیش
زلفي دي سنبل مخ د گلاب ستر گي نرگس دي
زه باندي باغبان یم دا گلزار ساتم همیش
داله تلو سي نه چه پر قلب مي پرزو نه شي
ځکه په ځیگر کښي ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر ښزی چه مجلس لره ور دروم
پس له دي به زه نور ځان کنار ساتم همیش
عکس د رخسار چه دي زما په زړه کښي گرزي
زه په خپل ځیگر کښي سورا نگار ساتم همیش
زړه مي ستا له غمه همیشه آه و فغان کا
زه په خپل وجود کښي دا بیمار ساتم همیش
ستر گي مي څلور شي ستا پر خوا چه وعده و کړي
زه حنان له غیرو دا ستالار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خطبه مخ د صنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کښي
دایی غابښ په خوله کښي زیب کا که ژاله شوه په لاله کښي
هسي رنگ سحر و جادو کا په نظر د شهلا ستر گو
نه یي سیال په هند کښي شته دی نه ثاني په بنگاله کښي
لکه و نهلی مرغی په سست دام د سلو لومو
هسي زه پر ښانو زلفو کښي یستم په کشاله کښي
دازما له غمه شین زړه یکښي خیال د یار دلبو
هسي رنگ زیب و زینت کا لکه می په شنه پیاله کښي
ماویل عین گټ گل دی دغنچي په لمن لښتي
که مي کوت یو گل اندام و پروت په سبزه دوشاله کښي
شکلي مخ کا ولي ناسته ، په مجلس د رقیبانو
په جوار د سپو کښي نه وی هیڅ ارام په غزاله کښي
سرتر پایه تیغ د هجر لکه نی سوری سوری کړم
ځکه یم مدام دا هسي په فریاد و په ناله کښي
که یار غواړي هو مره ژاړه خو درځی عبدالحمیده!
دا په دا چه درمونده شی په دریاب ته په ناله کښي
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسي دیوا نه او مجنون چا کړم
له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهیږم چه داهسي چاري څوك كا
لیونی د خپل نگاه په افسون چا کړم
کومي ستر گي کوم بانړه کومه غمزه ده
دوب شهید غوندي په خاکه اوپه خون چا کړم
ښوان توفیق چه دفتنو را څخه نه ؤ
په فتني د تورو ستر گو مفتون چا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم
چه دا هسي رنگه زبون او محزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند »

زه دیدار په دردوغم کښي شاد مان یم
لکه گل دبر ښاني په وخت خندان یم
ته زما و بیکسی ته نظر مه کړه
خدای ساتلی لکه گنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنگل په میوه پوره
په ویرا نه ویرا نی کښي ابادان یم
یو ښتنه مي د صورت بی عشقه نه دی
خو کیدار په هر نفس دخپل کار وان یم

دو صال مارغه داو شو دا نه راکړه — لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم
د کاملي عقیدې له برکته — دروهي په غاړه ناست شاه جهان یم
روښنائي مې په طلب کښې شوه حاصله — شپه او وروځ لکه آفتاب په لار روان یم
چه صفت د تو رو زلفو د اشنا کړم — بلې، سر په لو په لار د هندوستان یم
بې مینه مې هیڅ حال د صورت نشته — لکه بې مال ومتاعه تش د کان یم
دهوس بلبل ویسا را با ندې نه کا — دافلاس په کبل بو تې د خزان یم
دلبرانو ته خاك تر تلي لا ندې — د دې نور جهان په سر لکه اسمان یم
چه دیدار په دیدن سرو مال ښندمه — خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم

«عبدالرحمان مهمند»

زه دیار په درو غم کښې غرقاب خوښ یم — په داوور کښې بیطاقته بیتاب خوښ یم
تر دا یوچې گفتگوی چه زه یې اورم — په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم
چه دیار دخط وخال نښې پکښې وی — زو رند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
د ریا تر نا قبو له عبا د ته — دساقي په میومست او خراب خوښ یم
چه نه علم نه تسبیح نه تلاوت وی — له دې هسې بیداری نه په خواب خوښ یم
دطوبی دونی سوری مې خوښ نه دی — ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ یم
خاموشي که هر څو لویه مرتبه ده — زه دیار سره په سوال وځوب خوښ یم
دیار دهرې غمخوری یم عاجز کړی — رحمان څکه په خوردن دشراب خوښ یم

«عبدالرحمان مهمند»

خوك چه بد راسره کا ورسره ښه یم — هم په دا شو دبد انو تو ز لېمه یم
له هغو مې څه اندوه چه په خوی اوردی — په خپل خوی کښې سوده اونرم تراوبه یم
چه وماته وزما عیب پښکښې را ودی — ددی هسې یار له خدا په غو ښته یم
نور زما دی، نار زما دنو رو څه دی — دپتنگوغوندې مخ خیردلمان په سوه یم
په ایرو یې مخ سپیره شی چه نفاق کا — آینې غو ندې مخ سپینه تور په زړه یم
چېرې نه وی چه به بل مخ وته گوری — په هجران کښې خوښ دستر گو په واته یم
له نور چا گله گله عبد القادر کرم — زه خوار کړی خپلو ستر گو یم خپل زده یم

«عبدالقادر خټك»

مخ دې لکه نمر دې ورته څیر کتلی نه شم — څکه یې دمدحې ترعهدې وتلی نه شم
زده یې راغلیل کړ دهجران په ناو کیو — راز پکښې دیار د محبت ساتلی نه شم
اوس مې په معنو کښې ښه مین دستر گو کسی — کسی به د خلقو په ویل ایستلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یې د زنخ په څاه کښې بند لکه یوسف کړم
بند یې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

د خپل یار له مینې هسې دیوانه یم
که بې آهه بې ناڅې بې زغه سوزم
د خال خیال یې ما ضعیف لره کافي دی
چه یې خیال ساتم د سرولو په زړه کښې

په جنت نه یم خوښ هر گز په درد یار مې قسم
زړه مې له تا وعده د وصل هر گز و نه لیده
پر وایه گل ویه خار نه کړم د جنون له فیضه
که مې سرولاړ شی ستا په مینه لا خوشحاله یم زه
تور بخت مې و نه لیده هیڅ ستا د کاکل شب قدر
ستا د گلگون رخساره شرقه زه حنان دا وښو

زه چه مین د یار پر مخ یم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړي دعفتی ترمیان کړي تېر گلونه
رضا د ځان مې په رضا د خپل اشنا ور کړي
چه مې زړه وړی په منگوله هغه یار دی زما
که د وصال په هوا را شی یکتنها دلبره

سپین رخسار دي وای سپین صبا شو قم
د صبا او د بیگا تر منځ حیران یم
سپر یندي څوندي قی کړی کوم مې ناست یم
گنجینه شوم ستا د مینې له دو لته
چه میرا در سره نه وی قلندر ره !
قلندر په کومه یوزه لاړ شی صوات له
د میرا صاحب له جوره قلندر ره !

مغنی گوتې په ځیر ز دی په بم هم
ستا د عشق د غشی هسې ځای پر هار دی
ستا د زلفو مار چیچلی نه ر غیږی
تا چه مخ ورته ښکاره کړو ابونی شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
دخوښۍ پیاله په لاس کښې نن زما ده

بی یی د زلفینو در سی ختای نه شم
زړه مې پر واز غواړی ولې الو تلی نه شم
«عبدالقادر خټک»

چه خبر نه په کعبه په بتخانه یم
پر څراغ د مخ یې هغه پروانه یم
د مېنې په دود قانع په ابر دانه یم
دا په دا مدام د لعلو خزانه یم
« مرزا حنان »

خوښ په لذت یم د خوارۍ په اعتبار مې قسم
په نا امیدۍ د تورې شپې د انتظار مې قسم
په سینه صافه آئینه د نو بهار مې قسم
په تېره تیغ د استاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مینګو ستا د زلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړۍ په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

تماشه بې د یار له مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله تش د خولې خالی اقرار څه کوم
دا که مې قول د یار په لاس دی خپل اختیار څه کوم
نور حسن داره بې له ده د قندهار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د ربار څه کوم
« جمعه بار گزی »

تور کاکل دي وای تورشیه د تم
نه پوهېږم چه عمل و کړم په کم
د هجران لاس مې و کاږی زړه وبم
اژ د هار را باندې گرزی دمبدم
ته چه صوات لره ورځې عذر دی کم
چه میرا یې همراه نه وی هوس کم
دا یو ، لاړو ، السلام علیکم
« قلندر »

هم ساقی شته هم بهار و صنم هم
چه ریښه پرې ایښوداې نشی مرهم هم
په ستا نو په زیار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر گرزی په سم هم
زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتېده غم هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



به لذت دي د سروشرنلو کوثر هیڅ کړ
د حیات اوبه لا هم د زمزم هم
د یوه لاس نغاره دا سی آواز کا
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
که ناستی دیار کوی به خاورو مومی
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټک »

د شبنم دا نه که تخم شی د ګلو
زده به سوړ به دیدن نشی د بلبلو
چه بی نشه لکه ګل شه رخسارونه
څوك به څه کاتوري زلفي د سنبلو
حال د سوی طالع څه بیان کړم چاته
لکه نمر زما جبین دی د داغلو
معطل به عارضه د شام غریب شی
که مي زده به حلقه بندشو د کاکلو
داسمان به شان یی تیز دفتنو تیغ کړ
صبح وشام ګرزی ښکاره په سرومنګلو
« کاظم خان شیدا »

پسرلی مي دخزان په تاتار تیر شو
ما لا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تیر شو
اوس که ځان وهم که خاوري په سر اونم
په هیڅ رنګ په بیرته نه راځی وار تیر شو
لامي غټور ته په تحیر کتلی نه وو
لکه برق رخشنده په تلوار تیر شو
لکه ته یړی پیکر هم پری رو وو
هم هغه رنګه تیز رویړی وار تیر شو
وه ورځ به دا غم و شی علیخا نه
چه فلانی هم لکه ګردو غبار تیر شو
« علیخان خټک »

بی اختیاره راښکاره زوندون زبون شو
اشتیاق مي د زړه مرګ و ته افزون شو
چه دعشق په مکتب مادغه داستان اوست
هلك حیران راته فرهاد دویم مجنون شو
دقلم په دود به چا که سینه ټوټی کړم
دمرجان په طور رونی مي لړون شو
دحسرت ګوتي په غاښ کړی طبیبانو
له قانون او له شفی رنځ بیرون شو
« حمد »

سوروږوان د به سروشونه وهسی زبر کا
لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو
دسرو ټیك دشهزاده په جبین پروت دی
شینکی خال دي محاصل په بند یوانو
دواړه لیچي دي وښکلي مصری نوري
دو پوهیږم سر به پرېکړي د خوارانو
ستاله غمه په ځان زړه در حمان سوزي
لکه شمعه په زیارت د شهیدانو
« عبدالرحمان مهمند »

پارسائی یی د پارسا له لاسه یووړه
دانائی ئی د دانا له لاسه یووړه
چه مي کړي وه توبه له مي خواری
په چشمانو یی زما له لاسه یووړه
معجزه چه د احیاده په دوه لب یی
لاس په لاس د مسیحا له لاسه یووړه
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
دا دعوی یی دهرچا له لاسه یووړه
را ته پاتي دا یوه مسلمانی وه
دا مي هم هغه ترسا له لاسه یووړه
ماوي زه به دعشق رازلرم په زړه کښي
دا خبره مي ژړا له لاسه یووړه
چه د زړه صبر دیار له مخه غوا ړم
محبت مي دا دعا له لاسه یووړه
که د نورو هوښیاری په عشق کښي پس وړه ی
د خوشحال یی لا په خوا له لاسه یووړه
« خوشحال خټک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د زړه سختي مې سر تر پايه ولید نه
نوره دنیا نشته چه څه وه را ښخه خلقه
یار مې هغه وخت وي چه په شیبه به سره ناست وو
ګل چه شګفته شي عندلیب باندې ناري کا
تل ګونه و هلې هر زمان ساده اهو نه
سري لمبې بي بلې دخوشحال ختټک په زړه کړي

سنګک به سینه دوړ کړی ستاله هسې سخته دله
وار په وار مې واده په دلبرو و ښند له
شمعې به ژړا کړه صراحي به خند پد له
نشته یو ښکلی چه پ. ي و بو لم بد له
ما چه عاشقي کړه خود یه ما به دا کیده له
سور خت یې اغوستی به دا لاري تېر بدله
«خوشحال ختټک»

مست یم مې پرست یم رندي کرمه کرمه کرمه
نور شراب مې واده تور عالم وته بخښلی
موړ به څښي نه شم زه د مېو مستسقي یم
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم
څه وایې وماته حال د څه ؤ په هجران کښې
خلق راته وایې رنګ دې بیا زېړ شو عاشق شوې
دورد عاشق دادی چه په عشق کښې ملامت وي

واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
لام و ی مې مجادلې پسې مرمه مرمه مرمه !
تل که هسې د کې پیالې چښمه چښمه چښمه !
زه چه په دا هسې لاري تلمه تلمه تلمه !
نور خبر دار نه یم په زړه سومه سومه سومه !
هیڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه شومه !
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال ختټک»

توره چه تېره یې خو ګذاره اره کنه !
ولې راته وایې چه په ښکلو نظر مکړه
شیخ دې نو نسخ روزه کا زه به د کې پیالې اخلم
تا وي چه زما د خولې بوسه اکه دا روده
وینې مې د زړه خوري مګر نور څه لره نه دي
څه ژړا فریاد کړي دشپې د تورو زلفو
خو د به ستا دمخه د ګیاه غوندې خر ګندشي
مې شته چنګ و نی شته د خپل یار سره خوشحاله ؟

زلفې چه ول ول شي خو خپل یاره اره کنه !
سترګې چه پیدا دي خو دیدار له ره کنه
هر سري پیدا دي خپل خپل کار اره کنه !
غواړم دا دارو د زړه په هار اره کنه !
زړه زما پیدا دی تا خونخواره اره کنه !
نور تلې پخپله دي ښامار اره کنه !
ګل دلاله را وړه خپل رخسار له ره کنه !
خپل باغ په لاس کښې څه ګلزار اره کنه !
«خوشحال ختټک»

اکه مخ زما د ساز دی نمر خو هسې وی کنه !
دعالم دېرې خبرې اور به اوز توري لیکر یې
بې د عشق له شور و شره چه هر ګز زما له سره
چه یې ریږم عمل لا کا چه بې ورك کړی ځان پیدا کا
تا وې دروم ه اوم مې زبر کړه بل سبق له زړه پدر کړه
وهغه ته مې سر کوز دی چه معلوم ورته رموز دی
چه آزاد مر بې ور دروم مې خپل مراد ور ځنې موم مې
په یوه زمان تا یار دور شې واشې خو ګذاره

لکه زه په عشق کښې زبریم زیر خو هسې وی کنه !
زړه مې نه خوځی له ځایه غر خو هسې وی کنه !
نه ځي نور څه هر څه درومی سر خو هسې وی کنه !
ورځ دشپه داهسې کر کړه کر خو هسې وی کنه !
تل مې تېږي به خاطر کښې زبر خو هسې وی کنه !
په خبره نه پوهېږي خر خو هسې وي کنه !
په هیڅ ځا نه دی تړلی ور خو هسې وی کنه !
دخوشحال خاطر تېر بردی پر خو هسې وی کنه !
«خوشحال ختټک»

د وفا خبر پيدا ران دي بېل خوا دروغي     دا متاع د زمانې په دکان نشته
مگر ځان وسپاري خدای ته په امان شي     گنه بېل خوا ته د هيڅ امان نشته
هغه يار به زه و گورمې خواته غوا ډم     چه يې هيڅېر بې منزل او مکان نشته
دلبران که هر څو ډېر دي په جهان کښې     زما يار غوندې د نبر په جهان نشته
چه هم قد لري هم زلفې هم سرې شونډې     دغه هسې رنگ آفتاب په آسمان نشته
عشق عاشق لره يو هسې گلستان دی     چه وباغ و ته يې لار د خزان نشته
که مجنون غوندې په عشق کښې څوك صادق شي     د ليلې په دروازه کښې دربان نشته
دا نايان به د رحمان په قال پوهېږي     داته کار د هر نا اهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ستا به مخ کښې چه حساب د جمال نشته     ځکه ما څخه د صبر مجال نشته
ته د سرود مال وېره په ما مکړه     وېره ما څخه د سر او د مال نشته
روښنائي مې د چشمانو ستا ديدن دی     په دا کور کښې بل چراغ او مثال نشته
په جو يبار زما دستر گو سروته يې     په دا نهر باندې بل څه نهال نشته
مخ دې بې له خط و خاله هسې زيب کا     چه يې هيڅ حاجت په خط وپه خال نشته
ستا په يادو کښې رحمان هسې مشغول دی     چه په زړه کښې يې نور هيڅ غم و خيال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

گنج وعقل زار شه د عاشق د خاځکي اوښې     نه خروار د عقل شه د عشق يوه دانه
تېغ ديار له لاسه په مرې د عاشقانو     هسې لذت کا لکه د ميو پيمانه
خدای لره په ورسم په سودا ديار له مخه     بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه
څه که زاهد زهد کا د يو جنت ديار ره     سر بلند لې نه شي په ور بل د جانانه
گوره د منصور هسې په دار نه شې رحمانه     مکړه دا د عشق خبرې مې سته رندانه
«عبدالرحمن مهمند»

په گلونو اواز ورو کړه بلبله !     پر پښنا نه پېژنې ستا د شوره له غلغله
عقل وهوښ عزيز تر هر څه بېندل نه شي     ته يو څه رنگه ډېر گران يې دمل جله!
خدای دې ه کاچېرې چوخ په دې په بېهوشي     قدم ورو ږده دراپېلو په گل گله !
ومطرب ته مينا وايي وايه وايه !     دا معنائي پيدا کېږي له قلقله !
صدقه يې هم تر پسل عبدالقادر شه     څه قدرت لري چه وايي اه دل دله !
«عبدالقادر خټك»

وينځه که اصيله وي که توره وي که سپينه     کښلې شي له حورو چه پرې ورشي د زړه مينه
شهد که څه نبات دي که شته شيريني نورې     مينه که دې گورې چه تر هر څه ده شيرينه
خيال يې د زلفينو لکه مار وربا ندې پروت دی     نه پرېږدي و زړه ته بله مينه چه ور ځينه
سل زخمه که وخورې توی به يو ځاځکې پرې نوځي     هسې رنگه وچه د صورت کا مينه وينه
خرب به يې بدل په بېداري خوښې پرې وېرشي     هر چه يې په زړه کښې د دلبرو مينه وينه
يار په هوا دندې که د زړه مينه پيدا کړي !     مينه هسې څيز دې چه نزدې لرې کوينه
څه عبدالقادره ! په خوله مينه مينه وايې     خودې لاو سچاره نده مينه نده مينه
«عبدالقادر خټك»

چه له خپله اشنا نه لری ګډه
له نور چا به په نور څه لری ګله

انګوری ترخه شراب ور اره بویه
میخواران له ګبینه لری ګله

چه بی تا یي غروم د بل و مخ ته
په دا خوی له ما نیمه لری ګډه

هیڅ ایستادي بکښي ونکړتري بر بوت
له تاوکه یی مي زړه لری ګله

چه جارو مي ستا د در د خاورو نکړه
دهر ز ما له ما بیا نه لری ګله

بد و بد و ته ښکار یږي ښه و ښه ته
ښه له بد و بد له ښه لری ګله

ښه که سرؤ تری قربان عبدالقادر کړ
بیا تري ولي یار له ده لری ګله

«عبدالقادر ختك»

ننداره لره راځی چه پسی ځو نه
په اختر به ځلمی جونه کا سیلونه

ته به وایی مخ یي ګل د پغمبر شی
چه یي د مه په مخ ووهی خالونه

چه په سیل د بهار د ګلو ګرځی
ځلمی ګل به پګړی ږدی په اوربل جونه

ځینی دواړه زلفي د کی کا له ګلو
څوك په غاړه د ګلونو کا هارونه

زیړ او سره نمری اغوستی ګلرخانو
وا یی سبر و نی و نیول ګلونه

چه ګلو نه نولوی سندري وایی
شرمنده کا د بلبلو اوازونه

درست صحرا په خوشبوئی سره خوشبوی کا
په هغه ځمکه چه کیږدی قدمونه

چه له سیله را روانه شی و کورته
ګل لمن د بلبل یي نیسی آستینونه

چه له هسي ننداره نه ځان وباسي
شیخه ورك دي شه بیو څه خلوتونه

ده لیدل د ښایسته ؤ بکښې نه وی
چا به څه کړه اته واړه جنتونه

که اوازدی که لیده د روح خوراك دی
نفساني دي باندي نکا غرضونه

تیر شو وار عبدالقادر ره ! را به نشی
که ژړا کړي که فریاد کړی که آهونه

«عبدالقادر ختك»

څه افسون دي په ما و کړ پریزاده
چه یودم نه یم خالی د تا له یاده

زړه مي ډك له که سپند دی شعله بویه
که د زړه په فراد و کړم څوفریاده

بهانه ددي غرض مګر شانه کړي
ته یی لاس وروړي و زلفو ته شمشاده

چه اواز دي د تیشي په کهسار نشته
د شیرینی په طلب لاړي فرهاده

په اسباب کښي مي زړه بند په اسباب ندی
د چمن په قید سرو ده آزاده

مهیا ورته قفس د ښاخ د ګلو کړه
که څه رحم په بلبل کوي صیاده

چه په هر منزل کښي سرخوری لکه شمع
د هغه لاري څه نفع ده له زاده

په سختی کله امساك د دولت کیږی
جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده

همیشه یي پیچ و تاب لکه جوهر وی
چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده

«کاظم خان شیدا»

زه چه مست په لب دیار یم هیڅ حاجت د شراب نشته
اور د عشق مي زړه کباب کړ و هیڅ حاجت د کباب نشته

تمام تن مي وچ لرګی شو، رګ مي تار دور باندي پر یوت
زیر و بم اواز تري خیژی هیڅ حاجت د رباب نشته

پر پرهار نمک پاشی کړی چه پرسش کوی له ما نه
حال مي خود ورته معلوم دی هیڅ حاجت د جواب نشته

لکه مرغ نیم بسمل یم تپش کړم په ځمکه باندي
ځان مي ور کړ ستا په عشق کښي هیڅ حاجت د قصاب نشته

«خوشحال شهید»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر دا آوازمی غوږ پوست له بلبله
ستا خندا به ژړا کښې پسلم گله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډېر دی　　ستا د ستر گو مستی بده ده ترمله
ښا پسته د زمانې د نیا پرست وی　　په کوڅه کښې یې بلمه کښېږده بې بله
په چغلی مې ستا ؛ په یارمینه زیاتېږي　　څو دې زړه هومره چغلی کوه چغله !
ساقي مې چه راکوي یې په قهقه خانده　　زړه کړه دا د صراحی له قلقله
د لیدونکو په نظر کښې تفاوت وی　　او که نه وی خبرجدا نه وی له کله
په پریشانو اندېښنو خاطر پریشان شي　　جمعیت مومی خاطر له توکله !
چه ستا مخ ورته حاضر وی گل به گوری　　دغه ستر گې دي دخدای نکا بې گله
د مجلس روښنائي ته یې ته دی استې　　کوم نقصان دی که صبا کړه ډېوه گله
دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تېر شه زر عبدالقادره لدی پله

«عبدالقادر خټک»

سرو که لیده شی د چمن تازه تازه　　ستا حسن تري وینم ماه من تازه تازه
زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چمن نو　　یا دواړه نافې دی دختن تازه تازه
گوره ستاله مینې زړه یې ټک دی وینې وینې　　رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه
سار دی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع　　وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

۞ ۞ ۞

زه اول هم دېوانه وم ، دېوانه یم لا تراوسه　　له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه
له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب او بلا کش وم　　د دلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه
زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بېگانه وم　　ترخلو ښتو کالو تېر شوم بېگانه یم لا تراوسه
چه عشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم　　تور و ښته مې د سر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه
چه داخل د یار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم　　عام وخاص مې وائي ولې ښانه یم لا تراوسه
تل راضي یې په قضاوم ، هم صابر یې په بلاوم　　عذر نلرم له حکمه ، بې بهانه یم لا تراوسه
د شیرین دلبر له لاسه ، ما شراب د عشق بې قیاسه　　څوبې حده مې ډېر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه
دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه هست یم
په ازل مې شراب څښلی د یوانه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

۞ ۞ ۞

ناست یم ستاله لاسه زړه یا ره سینه افگا ره　　ته له مانه څه غواړې فلکه ستمگا ره
ته یو موش گیرك بې لایق نه یې د گلو نو　　ولې بلبلان شړې کمبخته ! له گلزاره !
یار دې له ما بېل کړ تا خو هیڅ ښادی و نکړه　　وایه څه دې وگټل رقیبه دل آزاره !
یو دې د هجران په تنا ره کښې لوغړن کړم　　بل دې د رقیب سینه رایخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر يو گل يې خار شي په لمن زما څو خېږي
نه چېنه د وفا طمع کوي له سر و قدره
غوڅ وي قلندر په تيغ د هجر کړی نيا زه!

سير د گلو نو چه کوم يې له خپل ياره
سرو به هيڅا ليد اې نه وي ميوه داره
مه کوه ميرا ! نوره جفا درب دياره !
« قلندر »

څوك چه ستا په مينه کښې وما ته کا پند ونه
زه مې که نادان په لاس کښو مات لکه شيښه شو
او شې دبانو په سر چه را شي نه در پرېږي
نه شي څوك ساتلی سره ښځری په گريوان کښې
نه دی چا مونډلی ښاپېری په دو شالو کښې

وامه بيفائدی زدی ابا سينه لره بندونه
نه شي څوك ايښو دای وشيښوته پيوندونه
ندی چا بند کړی په گيا سره سيندونه
ومي سول پاه سره د صبر در مندونه
وا خله قلندره! په ميرا پسې کندونه
« قلندر »

چه صبا يې په هر گل باندې طواف کا
د پتنگ په دود د ځان په سوو رضا يم
هميشه د گل په بوی زه شمس الدين ځم
ميل نکا را ته باز د يار د ستر گو

زه هوس د هغه باغ لرم له شوقه
ځکه مينه پر څراغ لرم له شوقه
په خپل يار پسې سراغ لرم له شوقه
تل په لاس کښې بردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدين کاکړ»

څوښې له وصله نه شوم د هجران له غمه زه
خلق را ته وايي چه زحمت دې لاد وا دی
سر دې په جهان کښې د همه وادو ښا ديو
لوس به له دې وروسته دخپل ياره غم اخته شم
غم دې له ازله په نصيب د عاشقانو
ما عبدالقادر چه دا غزل د فراق و وي

نه کړم به گل مينه د خزان له غمه زه
لا به چه بې خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دي شم بېغمه د جانان له غمه زه
دېر به زده زهير شوم د جهان له غمه زه
ځکه ته خلا صېږم يو زمان له غمه زه
رشك به کړم په اوښو د باران له غمه زه
« عبد القادر خټك »

يو غوا ډم له ياره ښه ديدن تازه تازه
ځکه بلبلان چغار کوی په تازه گلو
يو زمان له مد حې د دلبرو مه در ېږه
زړه چه در قيب زما په بد سره ښه کښېږي
آه کوی له د له په فريا د له زير گلمه
بل فکر مې نه کښېږي بې ستا له گفتگو يه
مه کړه په جفا سره از ار د بلبلانو
ستر گي مې خيره شوی چه ولاړ يې زه دي گورم
زړه د يونس چوی ستا د هجر له سختیٰ

بل در قيبانو ځا نکندن تازه تازه
نه به مدام گل وی نه چمن تازه تازه
تل د يار له وصفه کړه سخن تازه تازه
مکړه په ازار زما د ښمن تازه تازه
وا وره له بلبله ښه گفتن تازه تازه
شير شکري وايه له دهن تازه تازه
ښه خوبه وفا کړه انجمن تازه تازه
وکړه به دا لوری آمدن تازه تازه
ښه خوبه خيلمهر کړه غمجن تازه تازه
« يونس »

ښه مې ولیدل په سترګو واړه ښکلي
چه تر واړو لا تېرې کا جمال ستادی
د دنیا په مخ به ډېر وي ښه مخونه
چه تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستادی
د واړه زلفې د حلقه کړې لکه لومې
چه دانه دی په دا لومه کښې خال ستادی
دواړه ښېښې ګلګونې سرې په دماغ درومې
ګوره بیا څو مره وګړی پایمال ستادی
ته کښتن د غمزې کړه مه ودرېږه
مقتولانو قبول کړی وبال ستادی
که همه د خلقو ښکلي سره ټول شي
خسته زړه مې په ټولی کښې لېوال ستادی
چه دې څوك په کوڅه تېر شي نور مېن شي
چه تمام له عشقه روغ دی دېوال ستادی
که مثال د صورت غواړې ګوره میاشت ته
چه پوره د دوه هفتو شي مثال ستادی
چه صبا بېګا یې لوند لرم په اوښو
یادګاری را څخه پاتې رومال ستادی
څو ریبار در سره نه بیایې دوړاندې
چه په چم به یې تېرېږې محال ستادی
که په قهر یې شړې په لطف یې بولې
چه یې نه پرېږدې په هیڅ کښې خوشحال ستادی
« خوشحال ختك »

مخ د یار شمس و قمر دری واړه یو دی
قدې سرو صنوبر دری واړه یو دی
حاجت نه لرم په شهدو په شکرو
لب د یار شهد و شکر دری واړه یو دی
که بې یاره په بستر د پاسه پروت یم
نارو خارو دا بستر دری واړه یو دی
چه ودر او ودېوار ته یې نظر کړم
باغ بوستان او دغه در دری واړه یو دی
چه غبار یې د کوڅې راباندې راشي
دا غبار مشك و عنبر دری واړه یو دی
خدای د یار له هجره هیڅوك خبر مکړه
تاخت و قتل و دا خبر دری واړه یو دی
هغه دم چه سړی درومي له جهانه
توري خاوري سیم و زر دری واړه یو دی
قلندر که په رښتیا قلندری کا
خان سلطان او قلندر دری واړه یو دی
په دکان د نابیناؤ جوهریانو
خر مهرې لعل و ګوهر دری واړه یو دی
دا پیران دې عار زما له عشقه نکا
پاك عشق پیر و پدر دری واړه یو دی
په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او کور و پېښور دری واړه یو دی
غزا وشوه که خانې ستانې ور حمان ته
بې هنر و ګاو خر دری واړه یو دی
« عبدالرحمن مهمند »

تور ګیسو د په چندن باندې ښامار دی
توري زلفې دی سنبل د نوبهار دی
توری سترګې دې هوسۍ دی خطا شوی
چه وخړو ته پرتې په سنبل زار دی
توري وریځې دې لیندې باڼه دې غشي
عاشقان یې زخمي شوی په ګذار دی
مصفا تندی دې ښه دی تر بلوره
بېدلان یې په سرونو خریدار دی
دغه خال چه دې دو رو څو په پیوند دی
د خطا د ملك اصلي نافې ترې جار دی
سپینه پوزه دې غوټۍ د زنبق ده
چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی
ښنا ګوښ د نسترن دی غوړېدلی
د چنبې تر ګلو به د واړه رخسار دی
سپینه خوله که دې غنچې سره نسبت کړم
د غنچې غوټۍ ګله شکر بار دی
دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سرو لعلو
سپین غاښونه بې بها در شهوار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته زنه د سېب د سمرقند دی
چه خوا زه یې تر ښا تونه بسیار دی

صراحي د سپینو زرو سپینه غاړه
سیم اسا اوږې دې هم په دغه شمار دی

واړه تن دې د حلب تر ښیښې صاف دی
چه رازونه د درون ترې نمودار دی

سپینې لېچې دې ورښکلې مصري توري
چه خو تونه یې په غاړه سل هزار دی

د یاقوتو نیگینې دې سره نوکونه
ځای په ځای دې په اوږو باندې قرار دی

چه مې ستا د تیو ښه ننداره وکړه
هغه گلک په لذت ډک خوازه انار دی

د نامه غوټی دې گل ده د گلابو
کینږ اوښی د گلو پاڼې پرې انبار دی

د نامه نښکته دم و هلی نه شم
هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی

د پنډیو تر صفت دې نه زېږم
ولې سپینې په سپینوالي تر چنار دی

سپینې پښې دې د زنبق د گلو پاڼې
دېښو گوتې دې گلونه د انار دی

تمام قد دې په مثال د صنوبر ونه
دربده یې سم په مثل د چنار دی

سر تر پا په ننداره یې ځان دې جوړ کړ
ترتا جار واړه را نمی د هند و بار دی

ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو
د لوبیا دانه یوه متر خروار دی

نه خوږ بر مهر کوی عمر دې ډېر ښه
دخوشحال ختک دې تش ایدل په کار دی

« خوشحال ختک »

عاشقي را باندې سوري کړې مري
هیڅ مې نه د رومې بې باره تر مري

څه اثر به یې د عقل وي په سر کښې
د هغو په سر چه کښېنې ښا پېري

د مژگانو په پنجه مې زړه وکاږي
خدای د ترکو مستې سترگې کړې مرزي

علوفه به یې بې غمه نور څه نه وي
هر چه کاندې دخو بانو چاکري

لېز د صبر سبق ما لره هم را کړی
که په عشق کښې څوک دغه طاقت لري

خدایه څه دې د کوتوال په لاس کښې ورکړم
شپه او ورځ مې غزوي لکه توري

په صورت مې نری تبه شوه ولاړه
تاچه دواړه سترگې تورې کړې نري

د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم
چه بندی شوم د هجران په کچري

نور د شمعې په فانوس کله پټېږي
تاچه واغوستې دخیال جامې نري

زه رحمان په زړه نري کړم هغه جونو
چه یې ملاوې د و پښته په دود نري

« عبدالرحمان مهمند »

دا چه مست په میو راغی یار د چا دی
بیابه تاخت کا په کوم غولي وار دچا دی

چه زړه سوی یې د حرم په صید هم نشي
دا بېدرده بېبصر فې گزار دچا دی

ما خو نه دی څوک پېو جهي ازار کړی
دا چه ما ازار وی ازار د چا دی

چه یې درست جهان د مخ په رڼا زیست کا
دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچا دی

چه بلبل یې رسېدی تر گلو نه شي
دا د ننه په حرم گلزار د چا دی

چه هیڅ ترس په زړه کښې نه اري رحمانه
دا نا ترس اوبې پروا گزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین رخسار او مشکین خال یې سر خم دی
یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی

که دې مخ په زلفو پټ دی باك یې نشته
د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی

ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو
پیدا شوی شام شفق او صبحدم دی

په دهن کښې دې غاښو نه تجلي کا
یا غوټی چه په غنچه کښې د شبنم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چه اوس ز ما زړه غوځ ستا په غمزو دی — چاره، غوښی له قدیم سره په غم دی
بې ژړا چا ته نه ګوري سیاچشمه — د نرګسو غوږ یه ده د جوی په نم دی
راحت ندی چا موندلی بې زحمته — ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی
ستا د حسن د تعریف له بر کته — د رحمان د شعر کوکی په عالم دی

«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنګ بدیم ښکلیه! عارولی له ما کړي — چارې د قسمت دی، زه یی زشت ته یی زیبا کړي
یو ځله بیا راشه په ګلونو ګذر وکړه! — ای د صبا باده! چه بیا نغښتی غنچې وا کړي
ګل دې په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه — سرې دې له فراقه لاله ستر ګې بړندا کړي
ولی له شیدا بلبلی مخ جار باسی ګله! — ته به دا خوبی هم دده نار و رسوا کړي
لا خوشبوئی ور کا چه یی واچوی وا ورته — زه به ښا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړي
ته د حسن نمر یی دانور ښکلی لکه ستوری — ګل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړي

«عبدالقادر ختك»

خوښ یم تر ابده د ساقی له میخانی — خورم شراب د مینې د کې د کې پیمانې
قدر د بلبل چه پاتی نه شو به ګلزار کښې — جوړې شوی په باغ کښې د زاغانو اشیانې
سپینو ستر ګو د راوښو وا ړل په خاورو — نه یی وساتلې په ښه کښې د ر دانې
هر ساعت چه ډمه کا سنګار د یارد زلفو — وخېژی تر زړه زما غا ښونه د شانې
هیڅ حاجت مې نشی په شیخانو ملایانو — ور کې شه بیځایه د پښتون د ږیرې ستانې
تل مې لیونی عوندی څوك نه پرهېزدی و کور ته — ځای رالره نشته یې د یار له امتانې
هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه — څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې
مرګ د شمس الدین چه ددلبرد یاده نه ځی — شپه ورځ یی تړلی دی په ګوتو نښانې

«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنګ لیدلی دی — د زړه رخت مې په عشق رنګ لیدلی دی
اوس له وېرې په کوڅه ورتللی نه شم — ما د مستو ستر ګو جنګ لیدلی دی
غم و ښکلې توري راغی که مې پرهېزدی — ما خلاصی د ستا تر څنګ لیدلی دی
ما بېګا شپه د یار مخ لید لکه شمعه — دا خیل ځان مې پرې پتنګ لیدلی دی
دا مطیع په سحر ځکه ځکه ژاړی — چه خپل حال یی ډېر بدرنګ لیدلی دی

«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننګ لرې کوی — تش دیدن د ښکلیو د زړه زنګ لرې کوی
تل آرزو لرم چه به یې حال و یار ته وایم — ګله سپی غماز له یاره څنګ لرې کوی
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بی ننګ دی — ځکه هر ملنګ له ځانه ننګ لرې کوی
خدای په دواړو کونو هغه ږوند په تور لیمه کړه — څوك چه ستا له شمعی ما پتنګ لرې کوی
یار مې په شړل ندی راضی زه یې پو هېږم — سپی غماز له دره ما په جنګ لرې کوی
بس کړه ای ناصحه! تور ځیګر را باندې مه خوره — ګله مست بنګی له ځانه بنګ لرې کوی
بل شغل می نشته په زړه بی دیار له مخه — عشق یوهسې رنګ دی چه بل رنګ لرې کوی

«مطیع الله پیرخیل»

زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
ګوره دا یې ځان خونی تورمار لره وردرومي
مرم د خدای د پاره په شتاب شتاب رادرومه
چېرې هم طبیب ورو ورو بیمار لره وردرومي
ځم د یار په اوری په هواهوس خوښي کړم
ذوق کاندې بلبلې چه ګلزار لره وردرومي
هر څوك چه طالب کا پته نده دا خبره
هر کله مطلوب و طلبګار لره وردرومي
«خوشحال خټك»

خوږې شونډې دې شکرې ندي څه دي
ښکلي غاښ دې مرغلرې ندي څه دي
چه تسخیر په تورو سترګو کا د زړونو
سیه چشمې سحر ګرې ندي څه دي
چه د زلفو په زنځیر یې زمری بند کړل
هوسې سترګې زورورې ندي څه دي
چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده
ښېښنې په قامت سترې ندي څه دي
وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه
ستا د مخ په دور لرې ندي څه دي
«خوشحال خټك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر ېږي
سترګې د ښو په درانه بارنه زهیر ېږي
څو کبر لویې ده و خوبانو خدای ور کړي
هیچېرې بې زړه په عاشق خوارنه زهیر ېږي
څه شو که ترې سلسله ځار ېږي په ساعت کښې
ګل د بلبلانو په چغار نه زهیر ېږي
ښه رنګ یې بدرنګ کا چه پرې والوزي یوخته
زړه د خزان ګوره په بهار نه زهیر ېږي
ګرانې دي هر ګوره نوې چارې نوآموزته
هرچه مدام مې خوري په خمارنه زهیر ېږي
زردي چه خبر به شي د سترو له احواله
هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر ېږي
سرغواړه له خدایه خولۍ ډېرې دي فاضله
هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر ېږي
«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وي دي
سجود که روشن کړم که داعیب دی هم وي دي
عالم وایي عاشق شوې زه سوګند خورمه چه کله
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وي دي
کافر یم که یې و باسم هغه ساعت له زړې
ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وي دي
که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کېږدي
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وي دي
چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیا ښتیاخبرو
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وي دي
شیخان او زاهدان واړه په پسې شا ویل کا
په مخ یې مبرهن کړم که داعیب دی هم وي دي
که نور په صهبامست دی زه خوشحال په خرابات کښې
مستي یې په دیدن کړم که داعیب دی هم وي دي
«خوشحال خټك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
اندرون ګوګل مې درست دو ینو ډك شو
ظاهری جامې اغوستې سپینې سپینې
بیا دې نوی پرها رونه په ما روغ کړه
لرغونی مې لا روغ ندي ځینې ځینې
په زونډ ون یې څه احسان را سره نکړه
څه پکار دي که یې کړی په مړینې مړینې
زه دې درست له باغه وا پستم دلبره
تورزاغان پکښې مېوې خوري خوړینې خوړینې
تورو زلفو دې خوشبو په کړه ملکو نه
د واړه ګلو ښتي دي دمښکو چینې چینې
خماری سترګې دې د واړه شنه زمری دي
د خواجه محمد و مرګې ته ودېنې ودېنې
خواجه محمد بنګښ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به شوك بې نا چاري وطن پرېښې دی
که ستا مخ يو زلې وو يني په سترګو
د يوسف غوندې به خوځني ېېرون کا
که دې وليدې سرې شونډې جوهريانو
که د لبر په دا ښايست لاړ شې چمن ته

نه به روح هرګز په خو ښه بدن پرېښې دی
بت پرست به نور سجود دوشن پرېښې دی
که د زني چاته زلفې رسن پرېښې دی
په يا قوت پسې به تله د يمن پر پرېښې دی
د خولئی دعوی به ګل دچمن پرېښې دی
«کامګار»

چه يوه ګړی په جمع زړه ښه مخ وته و ګورې !
داخوی زما قديم دی څه ماوس ندی راوړی
د خلقو تهمت يوسر دجهان غم نه بل سر
دا اور چه په ما بل دی دخپل يار له جدائی
اشنا ته وايه نشې نا اشنا به څه خبر ېږی
ناوك يې دمږګانو دابرو په کمال جوړ کړ

که درسته دنيا ستا شی هم څه نده دا تر پورې
چه بې دزيبا مخه راته خس دی چارې نورې
هم ته به مې له هسې رنګه سختې بلا ژغورې !
نه ګرم نه ملامت يم که تل وينې ژاړم تورې
دا راز چه له ما نه دی اوريدلی خپلې مورې
خدای زده چه به دچا ترزړګی وزی پورې وورې

ښه باز دې دخوشحال ختك خاطر په لاسو کبوت
په قدری خبر شه چېرې نه په اسبزې پلورې !
«خوشحال ختك»

شنه خالونه چه د پاسه پر جبين ږدې
د عشق اور مې و بلوی د زړګی شمع
مادې خيال اره فرش کړی تورلېمه دی
په شپه حال د مهجورانو په ياد راوړه

دا زما پر زړه دا غونه آتشين ږدې
بيهوده مې پر موم نقش دنګين ږدې
ته بې نيا زه قدم ولې پر زمين ږدې
په راحت چه سر له نازه پر بالين ږدې
«پير محمد کاکړ»

❀ ❀ ❀

# ه: موضوع ګانې

## (۱) - مخ:

باديې لاس په پلو کښېښېږدی سره ريښې دی

ګل بې مخ وته نظر کا خوله پرېښې دی
«خوشحال ختك»

د پرېې ښکلې جو به ماليدلی دی په سترګو
زور دغاښو مکړه مخ بې صاف تر آئينې دی
عمر به يې لنډ شی که ئې تار دزلفو کم شی

روند شم که به تا غوندې په حسن بله وه
زخم به پرې وشی په ورو ورو بې ښکلوه
فهم کړه ای ډمې ! زما مخ ورو ورو چلوه
«عبدالقادر ختك»

ای چه په مخ و ډې خو ئې له ور ده
ته بې آسيبه بسی ، سيب او سی

خالی يو دم نه يم د ستا له در ده
که تر نارنج مې ځهر ده زر ده
«عبدالقادر ختك»

که مخ دې نمر کړم د نمر کړه وده نشته

که بې سنبل کړم سنبل مشکين ندی
«عبدالقادر ختك»

د پر هوس لرم د استا د مخ و ګل ته

زه بلبل پرې الوته کړم که بد نه وډی
«شمس الدين کاکړ»

سپین رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو ‏— تور ئې زلفې غلاف ورنه د اطلس

«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ ‏— که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ

چه یې و لیدو دا ستا جوهر د غاښو ‏— پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ

له حیا دی غټ و مخ ته کتی نشم ‏— کله لید په خوږو سترگو شی د نمر مخ

« قلندر »

دا دې بار خو دی، خو له نیو لی ‏— که لاله گل دی پر خپې و هلی

دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه ‏— که لعل و دُر دی سره پېیلی

«خوشحال خټک»

ډېر مې ستا و مخ ته و کاته موړ نشوم ‏— اور به څو پر ردې نا بوده دنیا ویا ډم

«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه ! ‏— په درست باغ کښې یو نسرین هسې لري !

«خوشحال خټک»

مخ وته یې، گوره چه په مخ لری خاوانه ‏— څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر

«خوشحال خټک»

## (۲) شونډی او زنه:

د خولې و یل دې واړه نبات دی ‏— خوا ژه دې لا د کنځلو زبات دی

څوک یې چه ښکل کا سیخ د هغو دی ‏— شونډې دې دواړه آب حیات دی

«خوشحال خټک»

بوی به ستا د محبت څخنی روان شی ‏— که یاره مې د نافې په دود تاتر کړې

په ناز کو شونډو بار د پانو مه زده ‏— خدای چه شونډې سرې بې پانو درته در کړې

«عبدالقادر خټک»

غنچه خوله چه یې نقطه موهومه ده ‏— څه عجب که په خندا کښې شی دوه نیمه

«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم او به دی ‏— دواړه زیست کا په یو ځای کښې بې جداله

«دالپوری حافظ»

که څوک و وینی د استاذ نخ پر آب ‏— زړه یې و وزی د سینې لکه حباب

«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم ‏— په کوهی کښې گذار کاندې انسکورلا

«میانعیم متی زی»

هغه شونډې چه ځائی د پانو سرې دی ‏— هغه شونډی څه حاجت لری و پان ته

«خوشحال خټک»

چه په خیال د سرو لبو د شپې خملم ‏— هر سحر څا څې ځما تر بستر و پسنې

«عبدالله پوپلزی»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلی
ګویا اخلی د یاغیانو قلنګونه

څوك مایوس څوك په امید دیار دوصل
څوك پراته غاړه غړئی په پالنګونه

زه خوشحال د آهو چشم مینې سرګرم
د غرخه غوندې په هسې ګرسکونه
«خوشحال خټك»

چه د بدن دمین وکړمه تازه شم
لکه کښت چه په باران سره اوبه شی

په ارمان د هغه وخت یم دریغه دریغه
که د زنې سبب یې بیا زما په خوله شی
«خوشحال خټك»

څوك چه زور سره ښکاره کا وزیاتیږی
که پخپله بوسه راکا زور به نشی
«خوشحال خټك»

مګر تا سره سامان د سلطنت دی
چه په هوډ مې سپینه خوله غواړې خټکه
«خوشحال خټك»

څو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی
نور مې ګل له د له هېر دی تلذذ
«خوشحال خټك»

سر به درکړم مچه راکړه ښه سودا ده
که یې ته په بها پېرې زه یې پلورم
«خوشحال خټك»

په رښتیا رماته وو ایه طبیبه!
چه د رنځ به یې صحت وی که به نه وی

سپینه خوله که بې ریباره وزپیشکش کړم
په خوشحال به مې منت وی که به نه وی
«خوشحال خټك»

دادی هغه اوچه په هجران کښې پسی ته مرې
اوس یې په وصال کښې دواړه اوریه ښکلوه
«خوشحال خټك»

دصبا باده! ګزر په چمن بیا کړه
په چمن کښې رنګا رنګ ګلونه واکړه

زه خوشحال کمزوری نه یم چه به داړکړم
په ښکار ناری وهم چه خوله یې راکړه
«خوشحال خټك»

زړه مې تخمخ کیږی دسپین مخ وښکلول ته
لاس یې لر بر کیږی دزلفینو ونیول ته

زه چه غلې سوال دبوسې وکړم راته خاندی
یا به زړه راضی ده یا پروانه کاوین ته
«مطیع الله پیرخیل»

چه یې تل دمخ ثنا وایی خوشحال له
په صله مې سپینه خوله درته بخښلې!
«خوشحال خټك»

دبوسې وعده دایم صبا برات کا
زړه به څو کاندې تازه په دا وینا کښې؟
«اشرف خان هجری»

بیا حانث په سپینه خوله شوم د خو با نو
قسمونه مې نا صح ګڼل عبث
«میا نعیم متی زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه
په خو زو یې د حلوا نشته غرض
« یونس »

که هز ار نحله شیخی کوی خو شحا له
که ښه ښکلی درنژدی شی نو یې ښکل کړه
«خوشحال خټك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤ ـ سترګی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری ستر ګي
هسی پری غوځیږم وایی توری لری ستر ګي

یارمی په ښایست کښی بی نظیره بی مانندی
لا په درست صورت کښی د پر مشهوری لری ستر ګي

ناست دی لکه څری رقیبان وخوار عاشق ته
څکه ستاله مخه هوری دوری لری ستر ګي

هرچیرته چه ته یی هغه اورته می نظر دی
هرچرته چه زانی شاهین هوری لری ستر ګي

« خوشحال ختك »

ما یی خیال لره ابلق د ستر ګو زین کړ
قدم نښ د ی په ر کاب ز ما د ستر ګو

« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی می د ښو کړه تری چاپیر ه
ګوندی خیال دیار په ستر ګو کښی حصار کړم

« عبدالقادر ختك »

څکه ما دعشق په تیر څا ن شهید کړ
چه می نه ر سی د صبر په کفن لا س

مر ګئ دژوند زما پو ښته له مړاؤ ستر ګو
په رسا ګنذار پو هیږی د تور زن لاس

« عبدالحمید مهمند »

کښی وروڅی کوزبانه چه دي را یاد شی
کازه غشی مي تر زړه لوښږی آ زاد

« پیر محمد کا کړ »

نیمکښو دی د غمز و توري تیر ي ستا
پري به غوڅ شی هرچه کاندي ننداري

« میا نعیم متی زی »

باز دیار دستر ګو دمږ ګانو په پنجو کښی
دی لکه تښری په چنګ و ړی زما روح

« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو ستر ګو په تعریف کښی
نـد ه کمه شا عر ی لـه ا جتها د ه

« میانعیم متی زی »

خو، دیار بیماري ستر ګي خدای خونی کړي
ګـڼه خون کـلـه کـو لی شی بیما ر

« عبدالرحمان مهمند »

خپلو ستر ګو فتو ی در کړه چه مي وژ ني
حیرانی ده پر دا لو ستو د مکتب ستا

و کوثر ته حاجت نـه لر ی د خپلو
چه جام نوش کا څوك دمیو لبالب ستا

« مرزا حنان »

زړه مي رم خوری له سینی پر خبر نه یم
دا د ستر ګو باز مي بیا راځی وښکار ته

« مرزا حنان »

یل یی په جها ن کښي مـو ند ی نشی
عاشق تـله د یا ر په لوری په لیمه کا

« عبدالقادر ختك »

بی د یار له مړاوو ستر ګو چه کج ګوری
ګـڼه نـکـا رنځورا چا ته جواب سخت

څوك د صبر ارام نـه غوا ړی په عشق
د ازل کاتب دی ښکلی په دی باب سخت

« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و د شت شی
هرچه زړه د آهو چشمو سر ه مل کا

« پیر محمد کا کړ »

روهي ګلونه (۵۲۵) ـ سردار محمد ، ع سراج الدین ، ر فتح محمد ، ن محمد نعیم ، ه اجرائیه پښتو ټولنه ۱۱-۱۰ - ۲۵ع

## ۵- غابښ

په آرزو دسپینی خولی یی په بوستان کښی
نرگس پیاس پر سر نیولی دی پیاله

چه یی ولید . خندا د سپینو غابنو
له شبنمه لمن ډکه کړه . لا له
« شمس الدین کاکړ »

په رنـا د سپینو غابنو یی خرم وم
وا قف نشوم د هجران د شب له دا چه
« پیرمحمد کاکړ »

## ٦- غوز اوپوزه :

در په غوز کښي د مهرویو هسی ذیب کا
لکه بر ښنی په سحار کښي ستار .
« مرزا حنان »

چه الماس دلمندرو زا نگی په غوز کښي
کوا کب کا په اسمان لرزان حبیب
« میا نعیم متی زی »

چه له غوز وتی مقصود د مومی لښتی . ده
چه له پوزي یی مراد مومی لونسگ دی
« خوشحال ختك »

سپینه پوزه دی غوټی د زنبق ده
چه چاپیر تري نور گسلونه د گسلدار دی
« خوشحال ختك »

## ۷- خال :

مخ وته یي گوره چه په مخ لری خالونه
څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر
« خوشحال ختك »

زه حیران د اعتقاد وربخو په نور خال یم
کافرخه رنګ‌سجده کاندي‌په‌محراب کښی
گل دډیري باریکۍ په شبنم خور شی
نازك زړونه بد وي په صاف جواب کښی
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خال دي په سرولیو هسي زیب کا
لکه مهر یسه مخزن د در مرجانو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه او به شني کا
زده مي شین شوستا دشنه‌خال له‌لاجورده
« شمس الدین کاکړ »

چه ز خال و خط خبری یکښي نه وي
د عشا قو یکلار د اترانه نه ده
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ز دي
دا زما په زړه دا غونه آ تشین ز دي
« پیرمحمد کاکړ »

شینکی خال د وروځو منځ د مهر و یانو
هم محراب دی ، هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متی زی »

زړه مې ځکه په سل ژبو ګفتګوی کړي — چه شانه وهي په زلفو د نګار لاس
«عبدالله پوپلزی»

په لښکر د تورو زلفو یې تالا کړم — خدای دې نه کا حال کمان کفر د چا
«میا نعیم متی زی»

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې — زر عو نه کړه تر سنبل او سره ګلاب
«میا نعیم متی زی»

ځانګې ږکښې زړو نه د عاشقو سره په ویښو — نه چه چیری کیږدی سره ګلو نه په اور بل
«میا نعیم متی زی»

کفرستان د شاه د تورو زلفو ګوره — چه په څه ښانې تاویږی وایمان ته
«خوشحال خټک»

که څوک وایي چه مار ګله په کټ څیږي — زه خوږ لیم په کېټ د زلفو مار
«عبدالرحمان مهمند»

که اره لکه شانه شم پرې نه یې ږدم — که د تورو زلفو تار په لاس راکښېوت
«مرزا حنان»

توری زلفې دی په لیچو باندی ځانګې — ښامار ان دی دچندړو په ښاخو نه
«خوشحال خټک»

دار بل یه هر تار یې زړو نه بند دی — مشاطه ور باندی نور یسی په تار و
«خوشحال خټک»

که دد یدن حج اکبر کوی تلوار راو که — چه پر سپین مخ باندی د زلفو تور اطلس لرم
«صدیق آخند زاده»

## ۸- زلفی:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندی — په زړه خوله لګوی مار د تورو زلفو
«عبدالرحمان مهمند»

رحمان ستا په مخ بې څنمو وهم مین دی — بېهو ده د وژنه کښېښنو د اَم په څه
«عبدالرحمان مهمند»

دک مې د نښه لړمون په اور ښو — زړه سمند ورد ی پکښې ی کور شو
چه ستا د تورو زلفو په رنګ دی — له بخته خو ښیم چه بخت می تور شو
«عبدالقادر خټک»

په لیده یې پېچ وتاب شم نه پو هیږم — څه بلاده د شوخ چشمو په کا کل کښې
تر حلقو د زلفو مخ ئی معلو میږی — که ګلاب راته ښکاره شو په سنبل کښې
«مرزا حنان»

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم — چه سنبل ورته خجل دی ګلاب هم لا
«پیر محمد کاکړ»

خو دیه څو دی کله زلفی په مخ ځانګې — واړه زهر دی چه ځوزی په تور مار کښې
«پیر محمد کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال دزلفو یې دزړه نه جدا کیږي          دې کیمې پورې پښکیږه شي تور حجاب
« عبد الله یو یلزی »

## ۹- خندا:

په بار بار د دخندا منت را باندې          چه په مادې نظر وشوپه خندا شوې
«خوشحال ختك »

کله کله په خپل قهر اکښې مسیږي          لکه څوک چه هندو بار کښې دینداري کا
«شمس الدین کاکړ»

تبسم یې له دشنا مه سره زیب کا          قدر تریات لري ترخه چه شي شراب
« مرزا حنان »

## ۱۰- لاس:

دا ځما د قاتل لاس دی نه یو هیږم          که تر باغ وتلی لاس دی د سرو ګلو
« عبد الرحمان مهمند »

کوم دلبري زړه په سرو منګو لوړې          چه لرمیو ن د وینو د کښې دی د حنا
« شمس الدین کاکړ »

سره نو کان دی دسر و ګلو په څیر زیب کا          د وارو لاس چه دی رنګ کړی په حنا
«پیر محمد کاکړ»

## ۱۱- حسن:

ته په دا حسن د ګل غوندې پیدا یې          پورې مور که ښا پیرئی یی راوډې
« خوشحال ختك »

زه رحمان د هغه حسن تښا خوان یم          چه جر که دعا شقا نو وی پر پښده
عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفتاب له ګرمه خو یه          لکه ګل په ټمن یت تازه شبنم ودم
« شمس الدین کاکړ »

پوېکښې مخې د فند هار د کښلیو نشته          کښلی د کشمیر که دلا هورو د کابل
زړه دشمس الدین په حساب سره دري ځای کړ          پوطرف دي تیك شوبل دی نته بل چار ګل
« شمس الدین کاکړ »

څو بیرو نې بې دلبرئی څه په کارنده          لکه ونه بې میو ی په بیا نو پورو ه
« عبدالرحمان مهمند »

توري زلفې شته خالونه سره رخسار          ښښه طوطیان دی سره ګلونو تور ښامار
«یونس»

## ۱۲- جامه او ګانه:

ارغواني جامې یې واغوستې رحمانه          بیایې جوړ کړه ستا دقتل اسباپونه
« عبدالرحمان مهمند »

دعقیق د آب په رنګ یې تن معلوم دی          هره ورخ چه جامه واغوندی ګلنار
« مرزا حنان »

د نور دشمعې په فانوس کښله ښېږي          تاچه واغوستې د خیال جامې سرې
«عبدالرحمن مهمند »

درسته‌دي له‌خيل غريو وا بستم خوشاله    يودغاړي هارمی د ګلونو مه‌شلوه
« خو شحا ل ختټك »

## وښي

دا هلال دی چه‌ليدل‌شی په‌شفق کښي    که‌په‌لاس د ګل‌اندامی سپين‌وښی‌دی
« عبدا لر حما ن مهمند »

## ۱۳- عيش، او دعشرت‌سامان:

دنيادار کړه چه نه‌وی ښي دلبري    اوردي پوري ددنيا په‌ملك ومال‌شی
ارمان دادي چه به زه هميشه نه‌وم    هميشه به‌سره ګلونه کال په کال‌شی
د ګلونو وخت تيريږي ساقي! ګرم‌بی    که دجام به د کولو دي اهمال شی
« خو شحال ختټك »

❁ ❁ ❁

ساقي! پورته شه‌دميو جام تيار کړه    عمر هيڅ معطلی نه کوی تلوار کړه
که‌غمخوار غواړي په‌غم او په‌اندوه کښي    ښينه د که د شرا بو اختيا ر کړه
هغه‌خوك دی‌چه‌تهمت پري وايه نه‌شی    غو ز په‌هيڅ‌ا باندي‌مه‌باسه‌خيل کار کړه
« عبدالرحمن مهمند »

❁ ❁ ❁

غنچه‌څښو‌ه شراب ساقي! بيا به‌ارمان کړي    عندليب ناري وهی چه‌بهار دروی
« عبدالقادر ختټك »

❁ ❁ ❁

ساقي وخت دنوبهاردی شراب راوړه    دشرابو سره نقل دخولي مل کړه
« خو شحا ل ختټك »

## رباپ

په‌آواز مي‌بی دزده پرهار ګا‌نه‌شی    مين ځکه د رباب په زيرو بم يم
« عبدالقادر ختټك »

له مزينه زده مي نرم او از خوښږی    ځکه‌خوښ لګه‌رباب په‌زيرو‌بم‌يم
« عبد ا لقا د ر ختټك »

باغ د ګلو نو ګنج د کتاب وا ی    رودو سرو دو نقل‌و شر ا ب وا ی
ښي‌ښي محبو بي ښه ښه احباب وای    خو بی د عمر وخت د شباب وی
« خو شحا ل ختټك »

## شراب

زما يار په‌خوب ويده دی چه‌ويښ نه‌شی    په‌پياله کښي ساقي! مي‌تر پوه‌ورو
« عبد القا در ختټك »

ګله! ته چه د بلبلی مخ ځار با سي    مګر ستا په‌خيل ښايست اميدمدام‌دی
نور چه تل د کي پيالي نشوی ښه‌دی    په‌يو‌ه پياله خوشحال ختټك بدنام‌دی
« خو شحا ل ختټك »

دا ګلګون شراب د کومې میخانې دی — چه صوفي يې په جرعه سره مدهوش دی
بیا به دا ګلونه نوي میخواري کړه — د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی
« خوشحال ختک »

د رحمان شراب له عشقه — نه انګور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د ګلو نو میو ناوې راسته ناسته — زنګاری کميس اغوستی د مینا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو — وینم یکښې هردم دخوبانو انعکاس
« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږي — معطل مه کوه ساقي! په داد ومل شه
« عبدالقادر ختک »

یو نفس دیاد پیاله له لاسه مه ږده — دا شراب حقیقي نه لري خمار هيڅ
« دولت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی — چه یې سی کا زی له انګوره
« شیخ دولت »

ای ساقي د جام په ور کړه سستي مکړه — کاشکې بوهم پاتې نشي هوښيار دريغه
« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

ګیځ رنا د نمر خپره شوه — زما یر کور دویر تاره شوه
د بیلتون ورځ تورې تیاره شوه — غمژ شونا خدا په چه بیلتون راغی
زړه مې له دې ویرنې سین دی — په ژړا ژاړم خپه ما ورین دی
زرغون له او ښو مې سادین دی — په نول نولیږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیا یم نه به بیا راشی — نه به تیاره شپه زما رنا شی
نه به شمي را ته بخلا شی — بیلیږي پېر یې اوس دیوون راغی

❀ ❀ ❀

د ښبتن پار دی هیر مو نکړی — آ غلیه مخ چه په یا نه کړې
اور بل دې پر ښو وی وا ته کړې — په ما دبل اور کړوون راغی

« دا شعر دشیخ تمین بڼ کا کړ دی چه، د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

ویر مې زړه سوری سوری کړ — را ته وګوره ملو کې ! !
په بیلتون کښې دې وباسم — له خوږ مینه زړ ګی کوکی
را ته وګوره ملو کې !
را ته وګوره ملو کې !

د بېلتون اور نه بل دی … هر ګړی مې زړه کې سوځي
لبونی به د مینی … سوځم زه لکه پیلوځي
راته وګوره ملو کی!
راته وګوره ملو کی!

غوږ و لی دی اور بل دی … اور زما په زړه کې بل دی
زه « بختیار » خاوری ایری شوم … په اور سوی مې ګوګل دی
راته وګوره ملو کی!
راته وګوره ملو کی!

« قطب الدین بختیار »
« متوفی : ۱۳۳۳ ھ »

❀ ❀ ❀

جدائی دما په زړه کا هغه چاری … لکه بازی په تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد و بیلـه بیل شی … خدای یې څه شکل د تش سلام محتاج کا
زما اوښي د ګوګل په جوش پیدادی … لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوک چه د قضا لـه شسته خېژی … زمانه د خوشحال زړه ورته امـاج کا
« خوشحال خټك »

که داستا ستر ګي راوجا ربا سم ځانته … له بنادی به یې نور شا کړم وجهان ته
یوزمان مې که داستالید ل نصیب شی … نور به ستر ګي یورته نکړم ګلستان ته
طبیبان د خیل دارو درسره کېږدی … تا و یشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندې تېر یږی ستا په عشق کښې … خدای دې هسې حال پېښ نه کا مسلمان ته
په فراق د ښو یارانو چه ډېر ژاړم … دواړه ستر ګي مې پیغور کا و باران ته
« خوشحال خټك »

اوس یې درد د فراقت زغملای نشم … لکه نی یم وهرچاته په فغان کړ
« پیر محمد کاکړ »

د فراق په درد کښې شوق د بوسې څه کړم … خوږ شربت په حال د مرګ د بیمار نښلی
« پیر محمد کاکړ »

مونږ لـه هواده تـنها راغـلی یـو … د ښې طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظـلـم را بـانـدې مه کـړه … د ښـو یـارانـو فـراق نـښتـلـی یـو
« پیر محمد کاکړ »

د سحر چـرګه خوږ شي په کـومی … چه تا نـاري کـړي دلبر مې د رومی
یومـي دلبر ځی بـل رانه زړه وړی … زړه مي بدا وړی چه دلبر نو مـی
« اخوند ګدا »

د هجران د غم راتله په توره شپه وی … په هـر چاورمـشـه بېـوخـته مېلمـا نه
د فراق اوښکو د صبر تیمم مات کړ … په دریاب کښې نشته ـ نمونځ په تیبا نه
« شمس الدین کاکړ »

وخت د نوبهار دی زه جدا لـه خپله یاره … دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځي بهاره!
ژاړی غاړي غرونه په احوال د عاشقانو … سیل د راوروندی چه رادرومی له کهساره

اورد خوږو زړو دی چه د غره په ونو بل شو
سری ددوزی څېږی له نښتره له چیناره

غوا لړی چه احوال د فراق څنو در معلوم شی
گوره هغه زانې چه جدائی ځی له قطاره

نوري ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی
راشه که بی اوري در باب له هره تاره

رنځ مې نه کمېږی په زمان زمان زیاتېږی
زر راځه طبیبه! گنه مرم د خدای د یاره

مرگ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو
خدای زو په هنگام د وصل کېږی دادوه کاره

څه شو که لا د موهی په شمار دی دژوندیو
رنځ چه لا دواشی طمع پرېکړه له بیماره

هسې خوار وزار شوم ز خوشحال په عاشقۍ کښې
خپل دی که پردی دی راته نه گوری له هاره

« خوشحال ختك »

چه په وخت د تلو راتلو کا چیغار و نه
دهوا دیاران را یاد زانی اکثر کا

« عبد القادر ختك »

که هر څو د بېلتانه له غمه وا یم
خپل ژوندون مې دروغجن کاندي چه بایم

په قد کوږ په تن ضعیف گوښه یولی
په مثال لکه ابر و د لر بیایم

« عبد القادر ختك »

له ښکیه و چاوده وخت د صبا شو
په هر مسجد کښې اذان ادا شو

راشه چه ښکل دي کرم اوس به بېلېږو
په ځان زمو نږه صبا بلا شو

« عبد القادر ختك »

مین را یاد شو داستا له رنگه
که یو د رنگ کښېښې زما تر څنگه

که اشنا نه بی داشنا مثال لري
ځار شم قربان شم تر تا ملنگه!

« عبد القادر ختك »

وخت د سحر شو پر یوتې تلي
له کښېیه لو ریه را و ختلي

د یار د راغلو وعده شوه تېره
په دېر کتل مې ستر گي و تلي

« عبد القادر ختك »

د منی وخت ؤ وني لېد لي
یو څو بلبلی چه ژړېدلي

خواري خسته وي وي مې سزا یی
چه بی گلو نو ویا ښېدلي

« عبد القادر ختك »

وړل د هجر پر ما شرط مکړه په عشق کښې
زه هر چا خوړلی ندی په شرطو نه

« شمس الدين كاكړ »

د زړه ویښتی مې په کومه درشتی خوری
هغه شوندي چه په شهدو شکر خوږ شی

بېلتانه مې هډو پوست هسې وچ کلک کړه
دیار لاس مې په وهل د خنجر خوږ شی

« شمس الدين كاكړ »

د هند بهار را نه آهسته و وره!
یار مسافر دی د ربره پی ژ څو ره

د سایی گل ؤ په نازلوی شوی
و تلی نه دی هرگز له کوره

« شمس الدين كاكړ »

د هجران له دېره غمه ولي نه مرم
له دي هسې رنگه ماتمه ولي نه مرم

چه یو یار له بله یاره جدا کېږی
د دي دهر له ستمه ولي نه مرم

چه په هر سحر زما په ژړا خاندی
چه‌یه‌لبزه گرمی شا کاندي وگل ته

له دي هسي صبحدمه و لي نه ږ م
ه دي بیو فا شبنمه و لي نه مر م
« عبدالرحمان مهمند »

زاروخوار عاشق دی چه‌په‌شپه‌دجدائی

درسته‌شپه‌بېخو به‌دامان ستوری شمېری
« خوشحال ختك »

## کاغذ

مخ یې سپین ورق خالونه توری په کاغذ
دادی تماماً د محبت کمال طور و نه
ته‌که‌نه‌رادرومې گاهې گاهې په‌خطیار کړه
مه کوه ناترسه د جفا ستم را باندې
وران به هر گز نه شی کینلی توری له‌ازله
ستوری د طالع هم له جبینه معلو میږی
مه گوره یې خط قلندره د یار مخ ته

سرو مال په ذا عاشقان پلوری په کاغذ
یار له جدائی چه یار ژ غوری په کاغذ
نیم ملاقات و ینم ستا له لوری په کاغذ
کله کله یاد کړه خیل‌غمخوری په کاغذ
هرزمانې که سترگې د چا اوری په کاغذ
څه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ
بې توروډ ندېږی چه‌څوك گوری په کاغذ
« قلندر »

## ۱٦ — ژړا

که گریوان می دسپوږمی دنمرمشرق شی
درحمان خندا به اجر دژړا ده

زه چه یار په سترگو نه‌وینم تورتم وی
تازگی د گل به قدر دشبنم وی
« عبدالرحمان مهمند »

ناخبره به ی له حاله شفق بولی

که دوینو به ژړلو کړم اسمان دوب
«عبدالرحمان‌مهمند»

بې دردان ئې لاس‌سرخی دشفق بولی

که په وینو کړم برجونه د آسمان دوب
« شمس الدین کاکړ »

زه دشمعې په څېر ژاړم تر صباحه

ته د صبح په شان خاندې له‌غروره
« شمس الدین کاکړ »

له ژړامې شوه تازه دزړه داغونه
خدا دیار په‌زړه کښې جوروستم نشته

لکه تل چه شبنم اوری پر وچو
در وی ئې سپی رقیب را ته پرېښو
« شمس الدین کاکړ »

په سحر ژړا دیمنې نشا نه ده
که فریاد په زورنکړم‌زړه‌می‌چوی

بلبلانو پر ي لوولی گواهی ده
که‌په زوره ناري کړ مه رسوائی ده
« مطیع الله پیر خیل »

هرسحر سترگې د گل له اوښود کی

په دابا غ کښې ئی ژړلو خندانشته
« عبدالقادرختك »

روحی گلونه ( ۵۲۵ ) ب : سردارمحمد ، ح محمدعلی خان ، ر عبدالغنی ، ن رجب علی ، ه اجرائیه پښتوټولنه تاریخ ۷ - ۱۱ - ۳۲۵ ع

## ۱۷ - اوښکې :

څه اثر به زما اوښې په تا کاندې
لا نازه شې او ر په اوښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

هومره اوښې مې بهېږی په رخسار
چه غرقاب مې هم گرېوان دی هم کنار

په گرېوان مې تل د اوښو باران وری
نه ورکېږی در حمان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند »

خدای پیدا کړم لکه اوښکې په ماتم کښې
ځکه برخه مې ژړا شوه له الستـه
« شمس الدین کاکړ »

پاکوم سترگې په اوښو دیار مخ ته
ناروا دی په قران وصل خیچن لاس
« مطیع الله پیرخیل »

په ناولی مخ دیدن دښکلو نشی
چه څولوند نشی د اوښو په باران مخ
« پیر محمد کاکړ »

له حسرته خپلو اوښکو برسر پوهم
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله پوپلزی »

دا ورک زړه غواړم په اوښو پسې لټلم
زخمی ښکار په بسمل دوینو پیدا کېږی
« میرزا حنان »

## ۱۸ - غم :

غم دې هسې غلبه شو په ما باندې
چه مې ځای شی نه دننه نه د باندې

له ژگړوی نه مې نور خلق په عذاب شوه
تل دوچو له کبله سوزی تاندې

زه دستا په غم کښې شمعې غوندې ژاړم
ته زما په غم کښې صبح غرندې خاندې

زړه مې ستا په اوری هسې او بزان دی
لکه زلفې دې په مخ دی او بزا ندې

ماډې ستا داند ښنو په غم کښې سوې
د دنیا اند ښنې واړه لکه سپاندې

داد ستور دی چه لوی غم په سرې ورشی
نور غمونه ئی همه شی تر پښو لاندې

هرچه ما په نصیحت له تا جار باسی
بیا دې ستا په اوری دروم ی له ما وړاندې

سره لمبه گوره چه څه کا په وچ د کی
مخ دیار په رحمان هسې چارې کاندې
« عبدالرحمان مهمند »

هسې زه یمه دیار په غم تازه
لکه وی هره گیاه په نم تازه

سترگې وخورم که نې وچې کړم له نمه
که مې شی په دا ژړا صنم تازه

زه به څه کړم دچا چارې بی دیاره
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه

دیار نوی نوی غم زېږوی وصل
رغوی سوی پرهر مرهم تازه

که دې زړه له غمه وچوی دلگیر مه شه
کا تبان کړی په چول قلم تازه

ښایسته یاران گلونه دی رحمانه !
بیلتانه کړه اکثر مړاوی کم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه غم دبختورو له خاطره
قسمت هسې لهښا دليو کناره کړم
« عبدالقادر ختک »

تل مطيع الله ځکه سرور په دودنغمې کا
دا مشهور متل دی فرياد غم پر ښا نوی
« مطيع الله پير خيل »

غم ديار مې په خاطر کښې محکم بيا موند
په کعبه کښې مې صياد دحرم بيا موند
« پير محمد کاکړ »

جای نشين وغم ته تل په انتظار کښې
رکالا يا نوی بندی يم د انګريز
« عبدالله پوپلزی »

لاله افسوس کاد زړه له داغه
پسر چمن نندی خاطر فراغه
کفن ئې رنګه کړ دزړه په وينو
په ارمان ويست خزان له باغه
« شمس الدين کاکړ »

ګوتې چه پرنبض زماز دی هغه پېرې سوځی
ځکه مې حيران شوو علاج و ته طبيت
« پير محمد کاکړ »

۱۹ ـ رقيب :

سپی رقيب ئې کښېنولی دی په مخکښې
هرڅوک زدی کوڅې په مخکښې دباڼېز
« شمس الدين کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
ګڼه زه څوک اشنائی د زور ورڅوک
بې هنره سپی رقيب هلته څه غوښت
که ويارته رسېدای شوی په هنر څوک
« شمس الدين کاکړ »

د رقيب وسرته وزی تېزی ناست يم
پرې پرئې نږدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

مقبول د رقيب ناز کړ ستا دپاره
سوداوزيان په داجهان کښې خوراوورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

۲۰ ـ جفا :

ستادعشق حرفونه تورنه دی ګلګون دی
هم په داچه نوشته په جګرخون دی
تش به نه شی هغه خم دعشق له ميو
چه ئې خاورې د فرهاد و دمجنون دی
ددنيا چارې همه وا ړه فانی دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له ندی
چه په سره کفن له مځکې راېرون دی
در جهان دزړه خوناب مګر قبول شو
چه مخ ونه د دلبرو پرې ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خوبانو چه کوم دوفا طمعه
کتوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »

نن مې پياله تورو ستر ګو سره جنګې دی
پرلبانو ئې دزړه دوينو رنګې دی
که پر هکړی سر په لاس ورلره راشم
لا په دائی باور نشی زړه ئې سنګ دی
« تيمور شاه ابدالی »

## ج : بدیعي تشبیه ګانې

خوله دې ګل غنچه ده تور ګیسو دې سنبل پاڼې     ښې دې د زر کې سپینه غاړه دې دزانې
شونډې دې ژوندون ښې به سترګو کړې خونه     ژبه دې شکرې ده د نښه په زړه پاڼې
هیڅ پرې نه پوهېږم دا دې زنه که منه ده     خال دې دی په زنه که دانه ده د ممانې
« خوشحال خټک »

کنده ولې د دواړو سترګو ستا په طمعه     وهر لور ته مې نیولې کور په کور دی
چه مې خیال د ترکوو لید و په زړه کښې     د واړه کښې مې وزړه و ته نسکور دی
« عبدالرحمان مهمند »

مایه خواست وزاری خوله له یاره غوښته     ده په ناز لکه غنچه سره و نه غوښته
شه خو حال زما تر غوږه د یار ور وړه     چه مدام ګکا پرتا خواب د ناز با لښته
محبوبا پر پا اننګ وا وښته په خوب کښې     که هو ستی ده د بهار پر ګلو ر غښته
ثمره د بد فرزند ښکنځل د پلار دی     پیدا مشه نا خلف د چا له پښته
« شمس الدین کاکړ »

چه له غنچه د ګلرخ مې اغیار کښېښناست     په چشمانو کښې مې ګل غوندې خار کښېښناست
« پیر محمد کاکړ »

آهو چشم پر سبزه د چمن رام شو     یا پر تخت د زمرد شهریار کښېښناست
« پیر محمد کاکړ »

که عشاق جنګ وجدل کا باندې څه شوه     پر ګلزار وی د بلبلو شر و شور
« پیر محمد کاکړ »

کوم یو له دوه وښه دی سپین رخسار که چنبیل ګل     کوم یو له دوه وښه دی تور ګیسو که سنبل ګل
« پیر محمد کاکړ »

پر سینه د ګلبدن ګریوان پاره شو     د غنچې له چا که رنګ د ګل ښکاره شو
« پیر محمد کاکړ »

دا تور خط راغی پر مخ د ګلعذار     که غالب شوه په کشمیر پاندې کفار
« شمس الدین کاکړ »

چه مې ستا د مینې داغ په خاطر پروت     زړغونه به مې لاله شي له تربته
« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړې الیلونه شماری     یکښې پراته دی هزاران زړونه بلبلې صنم
« میانعیم متی زی »

ګوتې تورې کړې په پای کړې دا پورې     زه حیران یم ستا د سپینو ګوتو تور ته
« خواجه محمد بنګښ »

زه دریځې درسته شپه پت ژاړم لکه شمع     ته صبا خندان لکه ګل واز ګریوان دچاپې
« علیخان خټک »

یون ئې د تند رو ، دربده ئې دی د سرو
پېر کوی په پلهو کښې حمله ئې د سپاره ده
« علیخان ختك »

تماشا چه زه د خپل دا غونو تل کړم
هم گلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

د گلرخ په هوا در ستنه شپه ر فتن کړم
دشبنم په څېر پښې پېلې سر سر تور تم
« شمس الدین کاکړ »

او ښې در ، ر نګ گهر با ز ده لکه لعل
جنس مې ډېر ولې رونق د بازار ته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیا ل ته مې خالی کړ د ز ړه غولی
مېلما نه لره تیا ر شی سرای د ستور دی
« مرزا حنان »

چه دې خیال په خا طر را شی مضطرب شم
لکه ببښ چه د مفلس کره مېما ن شی
« مرزا حنان »

چه تا و وینم تا ز ه غز ل ا نشا کړ م
پرې بلبلې فریاد کاندی چه گلعذاروی
« خوشحال ختك »

پر خپل ځای با ندې ولاړ یم لکه شمع
ترغزل پورې رفتار کړم لکه شمع
« شمس الدین کاکړ »

وخت دی راغی دفدا که فدا کېږی
شمعه بله شوه تازه پتنګه خوځه !
« جمعه بار گزی »

آفرین دې په ول ول توروسنبلو
چه ئې ځای د پاسه وینو په گلو
« خوشحال ختك »

## قبیح او ملیح

که یو ځله ئې په سرور باندې کښېنې
رنځ د هجر به شی د فم د بیمار
په مدار مدار به ئې کا زم چه خوږ نه شی
دبانو په ستنې ستاد بو ندې خار
« شمس الدین کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم باب ـ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ۱ ـ اخلاق

که د رنګ خوبي ئې ستايې بوديې نشته — په جهان کښې که باقي دي خو اخلاق دي

« خوشحال ختک »

په خو یونو کښې ډېر فرق دی — که سړی پرې خبردار شی
ځينې هسې خوی آغاز کا — چه خپل هم ځينې و بيزار شی
ځينې هسې خوی آغاز کا — چه پر دی ئې خدمتګار شی
که څوک خپل خصلت ډېر ښه کا — تر سرو زرو به رو بيدار شی

« خوشحال ختک »

ثنا د ګل شی له ښکليه بويه — صفت د مرد شی له نيکه خويه
اهل به نه کا ستاينه هيڅري — د ګل له رنګه د مرد له رويه

« عبدالقادر ختک »

چه ګل همت ئې خوراک لباس وی — په تحقيق هغه ارذال الناس وی
شرف به خوی دی په ديانت دی — که څوک شريف وی يا څوک کناس وی

« عبدالقادر ختک »

په ښه خوی د سړی قدر قيمت کيږی — بد خصلت سړی يا ديو دی يا پيری دی
چه ئې علم وهنر نه وی ځنې تښته ! — بی هنر سړی که وګوري لاشی دی

« خوشحال ختک »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپليږی — په بد خوی باندې خپل واړه شی سوا

« قلندر اپريدی »

که دې رنګ، بو، لطافت واړه د ګلان کړل — نور د ګل په خبری پاس په دستار ګرځه

« فاضل »

د ښه خوی ګټه ده ډېره — له ګڼلو تراند تېره
هغه څوک چه اخلاقي وی — د هغه نوم به باقي وی
که دچا اخلاق ښه نه وی — د هغه به ژوند ښه نه وی
د اسلام دين دی راغلی — پيغمبر دی پا ځپه دلی
چه پوره کی ښه اخلاق — او پر ځای کی دا ميثاق
په خويو انسان انسان دی — که نه وی خوتش حيوان دی
مکارم انسانيت دی — رذائل حيوانيت دی

« عبدالکريم کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر طرف پري سره ځمکه سره پناه شي
په نسب که خان ، نواب قاضي قضات وي

لکه کېنت لره باران اوباد په کار دي

۲ ـ په ځان باور « او » همت :
چه فلك سره سر باسي
کړه ئې ندي بې حکمته

رب دې مکره د اخلاقو پله سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزی په کنجله
« احمد گل لـلمی »
د عالم تولي په خلق په احسان شي
« خوشحال خټك »

په همت کښې هغه زه يم
زه خوشحال دده په کړه يم
« خوشحال خټك »

په تېرو تورو ور دروي يکسر ننگان
په لمبو باندې ځان ولي پتنگان !
د کنجکو قدر يو ، د در ويل د ی
ننگيالو سره څه ژوی بې ننگان
ار تگي د زړه دليل د جنتي د ه
د دو زخ دا ور لايق د ی دلتنگان
د باد شاه په سلطنت پوري خندا کا
په سپېر و ايرو لړ لې ملنگان !
نور ماهي ئې تر په تار دروي له مخې
ما تو ی لو اې بېړ ی، نهنگان
دهاتي د پاسه سپور ورته پيکه وي
چه د ميو پيالې آخلي سر هنگان
څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پرهار ژ اړی پلنگان
« خوشحال خټك »

چه په غوږو ئې روز گار هغه زمری يم
نه چه ولې ئې خوراك هغه مېږك يم
که عالم راته کل تا و کاغم مې نشته
په رښتيا ويل د ډېرو پو ليو لك يم
په دانش په شعور نده په همت ده
چه دا هسې سر گردان لکه پتنك يم
هر پښتون چه د مغولو نو کری کا
که د ی زر ، د هغو وادو بهترك يم
چه منصب مې د مغل خود يو ملك وم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك يم
د فرمان د بروانې حکم ئې نشته
شكر داچه په خپل حکم په خپل وك يم
نه مې کار په خاص وعام نه په ديوان دی
نه په درو لاړ د هر يوه مردك يم
نه تصديق شته نه يادداشت شته نه توجيه شته
نه په فکر د سند نه د دستك يم
هر گېدي به چه له ما سر کوزی غوښته
د هغه د سر يا توره يا کوتك يم
پښتانه لره شرې، اندېر مې بس دی
نه په فکر د مسندنه د تو شك يم
آزادی ده په ساده سپينه جامه کښې
خلاص دغه د زر بفت اود مبلك يم
د وښو جونگړې هسې راته ښې شوې
وايي ناست په محلونو د آهك يم
که او گره د بټو شته په شړو مبو سپينه
د مغولو پولاو پاتې ډېر بري دك يم
چه نيولي مې داهوډ دننگ ونام دی
که له خپلو هوده وا ودم کنيزك يم
په بل غشي توپك هيڅ ويشتلی نه يم
که ويشتلی يم خو بيا په خپل توپك يم
چه شهپر مې بتي خيل وو کنډه کيرشول
پر وا دار په لنډو پرونو دبارك يم
د کريز بڼې مې توئې لکه باز کړي
گمان مه مکره چه بې پرو ښا پېرك يم
تف په زيره د همه وا ړو بسار کو
لا زما په زيره هم که زه بارك يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی     زه خو بیا دسپاکیء انا خشتك یم

نن خو قامرا سره ډېره جفا وکړه     کانده بیا د خدای وحکم و ته ځك یم

که څه حق یا دنیکی یا دووری شته     و یا داش وته په طمع د هر یك یم

مهمندی زما د کلی لاس او پښې دی     راضی من دافرید یو یه کومك یم

ډېر چینی چه تراوش وکا دریاب شی     چه ایده شم اوس خود ایم یو بولك یم

کر لانی څړ بنی څو چه پښتانه دی     زه د ننګه په کار دواړو مشترك یم

که مې عمر په شماره تر شپیته تېر دی     لا په کار د سواریء لکه از بك یم

د افغان په ننګه مې وتړله توره     ننګیالی دزمانې خوشحال ختك یم

« خوشحال ختك »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تیشه د فرهاد شه ده     تر هغه چه نا هوار لکه خا را یم

تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم     خو ش په طور دمك بې دست وپا یم

« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس وخاشاك پهخپل گردن زده     حو صله دې به مثال د لوی دریا کړه

« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحرو بر     که څه سمه وی که غر

په همت به ئې تسخیر کړم     په شاها نه شان وفر

« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه     دون همت اندېښه مکړه بله بله

« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې دزمری پهخوله کښې ور کا     خدای دې نه کا چهعارف پکښې غارتشی

« خوشحال ختك »

څههغه شهباز شهچه دې ځای په سردرو وی     نه لکه د کلی کارغه گرزه غم دښ کړه

« خوشحال ختك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله     که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی

« خوشحال ختك »

سردې دروميمال دې دروميپت دنه ځی     د سر ی د چارې کل خو بی په پت ده

چهیی خدای ورکاو چاشکرد کاندې ندې     په جها ن کښې او یه بخر ه د همت ده

« خو شحال ختك »

علم تابیائی په پورته جهل تابیابی په ښکته     یاعیسی اره وردرو مه یاقا رون تهځان سپاره

د نباتو حلوامهخوره چهمنتورسره مل وی     خپل کشکاب دخپل محنت خوره پهسرراوده پشتاره

« خوشحال ختك »

❀ ❀ ❀

هغه زیست چه د عزت له مخهنه وی     چهیی کاپه هغه زیست پورې هکه یکه یم

اوریی پوری په منصب په نوکری شه     چه تر فهم و تر نظر د مغل کمکه یم

په خپل ننګ و ناموس چه راشم لیونی شم
چه په طمع د اوږو زغلی وشست ته!
تر قضا پورې د هیچا چاره نشته!
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی

خبر دار کله په سود او زیان دلګې یم
ګمان مکړه چه هغه ناپوه سمګې یم
او کنه تر زاړه ذئب لا زیرک یم
نه چه ګرځی ګونګټی نیسی باد خور رګې یم
« خوشحال خټک »

❀ ❀ ❀

که د جام لکه حباب وه نه نیو سینه ته
آفرین دی په همت شیدا خټکه
« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

په خو غره په غره د باز غوندی پرواز کا

بیا به وانه نی د خوشحال خټک پرنشته
« خوشحال خټک »

ساقی جام د میو مه پر پښږ ده له لاسه
د بلند همت کښې پورته پورته درومی

خو د عقل څه زړه وی لا به مست کښې
ښکته ښکته ځی سړی په پست همت کښې
« خوشحال خټک »

چه همت د سړی څو قدر ی هومره
د وطن سړ ی هغه بللی بو یه

د امیز په تله هر سړی تا له شی
چه له سینده نی جدا د چا واله شی
« خوشحال خټک »

نوره پښتو نخوا په ځای میشته ده
که یی درست د دتو زور راته ښکاره کړه
عجب مار می جار و تلی تر دوه پښو دی
مست ها تیان خونی زمری په زنځیر کښېږی
په خپل اه می باور شته اثر به و کا!
یو دوه سړی مار می پروت په دواړو پښو دی

خو یو زه دی زمانی په کښې منصور کړم
نه به بیا په قوم کښې کښېنم نه به هور کړم
مګر لوی یادو پیداشی چه یه دور کړم
بو یه دا چه ځان فلک وته تر بور کړم
رقیبان به اور لړ و نی د تنور کړم
په دیدن یی له نشاطه نه نفور کړم
« خوشحال خټک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه

چه محتاج د خیاط نه شی پیر هن ته
« کاظم خان شیدا »

د باښی د باز نصیب شوی تازه غو ښی

دوچ در بو بیخ نصیب شود سپهر کسندی
« مطیع الله »

وزی تیږی پروت په خپل یوز کی ښه نی
د منت یو لا و دی ز هر شه که نی مومی

نه په تخت د پاسه ناست د بل کره
د محنت سوی سکرک د ساګې سره
« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی به لوی دریاب کښې ګرزه
عاقبت به ککری ور پا ند ی کښېږ دی
هغه یار که په پالنګ را سره نشته
د غمزی په تیغ نی خوږ ښه نی خوشحا له

په بیله کښې دی زوال وینم نهنګه
تر خراغ چه کیږ و ښی ګرځی پتنګه
دا هم شکر چه نی بوی ځی له پالنګه
مړ نی په روغ صورت نه ځی له جنګه
« خوشحال خټک »

که غوټي پسې وهي په لاس به در شي … چا وې دا چه په دریاب کښې گوهر نشته
که د جنگ په کار کښې ډېر دي حکمتونه … خو صفا بې له نشي زلمیه ظفر نشته
شه عجب باد شاهي لکه خورشید کړم … یک تنها په جهان گرزم لښکر نشته
د منت دارو که مرم په کار مې نه دی … که علاج لره مې را شي مسیحا هم
« خوشحال خټک »

را شه گوره نامردان بلا وهلي … د ډېرې میدان ډېر پېرز دی لږ تې زغلي
د آسمان د پاسه گنبت ننداره نکاه … کوز د ځمکې د تلې په مینځ کښې هلي
مړ هغه چه نوي نوم نه يې نښان شته … تل تر تله په ژوندون پپا ئي ښا غلي
خوك په خپل پتي کړل کا د اعزیزو … چا په خپل پتي گډو نه دی کړلي
پسینه کړنه هو مره فا ئیده نکا … چه په وخت کړنه و کا بېر آ خلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی … رنج و گنج سره دا دواړه دی تړلي
« خوشحال خټک »

بنسیا د د چارې په مصلحت دی … بیا د مړ د انو په ښه همت دی
چه سره یو شی دا دواړه نو که … واړه دولت دی حرمت عزت دی
« خوشحال خټک »

مړ دان هغه دی چه همتناك وي … د ننگيالي په کار کښې چست و چالاك وي
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض گڼي … په زړه هم پاك وي په خوله هم پاکوي
« خوشحال خټک »

چه په خپل دخپلو وینو سرخرو گرزم … څه منت به دد و نا نو د دینار کړم
چه په وازه خوله موندہ شي مه يې وینم … که صدف غوندې حاصل در شهوار کړم
« عبدالقادر »

که د مځکې غوندي کوز په تواضع یم … په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

چه همت دي د تپوس دی ځان بازمکړه … ځان په رسم د جانباز و جان باز مکړه
« عبدالقادر »

هر سړی په موافق دخپل همت نظر ارینه … په ورد و چار و هیڅ کله گانه نکاندی لوی چاری
« عبدالقادر »

مړدان هغه دی چه همتناك وي … په هره چار کښې چست و چالاك وي
چه غم پرې را شي پروا دغم نه کا … خواږه له هر چا په زیست وړواك وي
« خوشحال خټك »

چه په شان د آفتاب ندی گرم رو یه … ستا په سر کی به سایه دهما خو بې يم
« کاظم خان شیدا »

چه همت مې نه کا ډېر په هسکو او … لکه موج نکړمه پیم له پر بو تلو
سوال مې خوی له در افشانه ابر ندی … صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
د آفتاب به کمند نه خېژم آسمان ته … ه زړم بار لکه شبنم پر دوش د گلو
« کاظم خان شیدا »

۳ـ امید :

د شپې څښتن دې سحر ته ګوري     ګونډې پسرلي و خېژي د صبا ستوري
هیڅوک دې طمع امید پرې نه کا     باران به تېز و ګښتو نو اوري
« خوشحال خټک »

له مقصوده نا امید مشه پښتنه     خدای به ځکه کامرغونه د هوا پېښ
« عبدالحمید مهمند »

دادستور دی چه شپه و لوېږي به ځکه     به شتاب ور پسې صبحدم راځي
« عبدالحمید مهمند »

په ژوندون به لکه شمع دا سرد نه شم     چه تر مرګه پورې زما جانګزاري ده
« کاظم خان شیدا »

هر ګره ګره کشا لري نېکبخته     نا امید له خدایه غو ته جېین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

٤ عزم او توکل :

د هوښیارو نادان هومره تفاوت دی     خو د ځمکې د آسمان په مینځ کښې وت دی
که په ما بانديې څرخ خوري پروایې نکړم     د هر هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال خټك

نه رسي تر یاره هر چه ډېرې اندېښنې کا     نورې کیسې پرېږده د عشق په تو کل هسې
«خوشحال خټك»

هغه باغ چه تل ما واده د بلبلو     اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
دزړه راز و چاته ووایم حیران یم     په هر لوري چه نظر کړم همراز نشته
تو کلت علی الله و ینا پوه ده     د خوشحال دزماني سره ساز نشته
«خوشحال خټك»

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي     جمعیت مومی خاطر له تو کله
«عبدالقادر خټك»

٥ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دې سستي و نه کړې درویشه     چه و نلې یې ددې خونې له ویشه
نعمتونه رنګارنګ دي په هر لوري     په غښتونې یا نې نده جفا پېښه
څو طلب هومره موندل دی په دادور     بلکه لا تر طلب بخره مومي بېشه
د عسلو خوازه کله هغه مومي !     چه حذر کا د مچی له بده نېشه
« خوشحال خټك »

عشق چه ډېر ولې به تېر انداز شي     چه مشق دخط کړي وخط به ساز شي
کار د محنت دی د مشقت دی     ورو ورو په هر هنر ممتاز شي
«خوشحال خټك»

هر مرغه چه دبل غوښې خوري مردار دی     ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه
دزړه په خیر دلمر په طالب ګرځه     لکه تیزه هسې پروت په زمین مشه
کار په تش لستونی نشي بې دلاسه     لاس په توره کړه بې لاسه آستین مشه
چه تقوی د یانت نلري ر حما نه     د دې هسې همنشینو نشین مشه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمری خپلی منګولی نه کا ښکلی  هومره نه‌وي ښکاري غوښې ورته تلې
مرجونړا درو مرجان هله وليچه کا  چه قبول کاندی د بحر خوږي چلې
عاشقان چه ترسره تېر شي هله ښکل کا  د دلبرو ښتي خولي لکه ځلې
بازچه والوزی له جالي هله ګوري  د ښکېکانو ښايسته ستر ګي کجلې
چه داور ښځری ياد سره رفيق شي  بيا هاله کا په ملکو نو لمبي بلې
چه سيلاب د غره د سره نه روان شي  بيا هاله بيا يې په مېږ د بري خځلې
«خوشحال خټک»

* * *

په تحصيل پسې يې ځکه کوښښ بويه  خپل هنر له لاسه مه پريږده خوشحاله
«خوشحال خټک»

چه تورده ترخه قبول لکه درياب کا  هم هغه د قيمتي د رو مهتاب شه
چه لمبه يې د آتش کړه په ځان تېره  له هغه پسه د ګلا بو ګل ګلاب شه
د کمال کسب پا په دسعا دت ده  هغه ښه چه د کمال په اکتساب شه
ته هم زده مراد وغواړه له عمله  چه په علم يې عمل وکړ کامياب شه
«خوشحال خټک»

ښادي عم غوندي آسانه موندنه شي  سور په خپلو وينو لعل د بدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زر ندوهله څه حاصل کاندي چه ګرزي  يو زمان قراري مه کړه له طلبه
«عبدالقادر خټک»

له آزاره چا بازار موندلی ندی  له انګاره چا ګلزار موندلی ندی
تلوار مه کړه په خپل وار به برخه در شي  بې له واره چا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شي پسی پاسه  له ګفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطيع الله پير خيل»

کار کوه کار، په کار هم کار دی  تاوان په ځان باندي خالي ګفتار دی
عقل څه بل دی خبري نور څه دی  ګو تره ګوېګه طوطا طرار دی
«عبدالقادر خټک»

لکه عامل شوه د خاورو لاندي  عمل هم ورک شو په مځکه باندي
اوس په خبره بړول و بدل دی  دا بيت بازي دی عالم يې کاندی
«عبدالقادر خټک»

کله به لا درومی له ماي د سحر خوبه  خوب بېغمه نه کا چه په مځکښ بې منزل دی
عبدالقادر خټک»

چه منت په ځان قبول کا نو راحت شي  چه عارف د مصيبت شي عافيت شي
«خوشحال خټک»

٦ ــ صبر او استقلال :

غشي چه د ښه ولی ښه تير انداز شي  چه مشق د خط کړي و خط ته ساز شي
کار د محنت دی د مشقت دی  ورو، ورو، په هر هر هنر ممتاز شي
«خوشحال خټک»

مړ تېي د هر چا نندی سره سمې — دخرد بار د فیل په شا باندې مثقال دی
نه چه لافی د مردانو د میدان کړی — په میدان دی کوم راوړی استقلال دی
کا همه خلق یې سنز شه پښتانه — بیچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال خټك »

دمرد چه صبر چه استقلال نه دی — چه غم پرې راشي یکښې خو شحال نه دی
مرد دی یې هیڅ ده و زما په بوهه — که بې په جاه ودولت خوك سیال نه وی
« خوشحال خټك »

اضطراب به دې خلاص نه کاله غمانه — مستقل و ر تنه په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر خټك »

په تا که راشي غماد ته لویه — تپښته تسلیم صبر ته بوه
ته به یې دفع په صبرو کړی — نه په لښکر و په زرا و زو یه
« خوشحالی خټك »

صبرو نیسه په خپکښې که مراد غواړی — هیڅ کار کړی دغه کار په شتاب ندی
« عبدالرحمن مهمند »

ای حزنانه صبر وکړه مراد به مومې — د فلك زر نده په واړده پس و پیش
« مرزا حزن »

خلاص به نه شي سر کشان له گوشمالی — چه فلك په جهان شته دی تلوار مکره
« کاظم خان شیدا »

دا نا یې مه گڼه چه صبر نه لري — چه صبر نه لري حکمت به څه لري
سړی د صبر به کار کښې و زمیه ! — چه صبر ناك وی هر څه به ښه لري
« خوشحال خټك »

صبر ناکو سره جور فلك نه کا — د فلك جور د چا چه سبکسار رو
« خوشحال خټك »

ژوندی که گرځي خان یې ژړلی دی — تور زن د سر به وینو لږ لی دی
چه صبر نه لري ظفر به نه مومی — ظفر له صبره سره تړلی دی
« خوشحال خټك »

شورش مکړه د گردون له کشمکشه — او مه کله کا مرغی له اضطرابه
« اشرف خان هجری »

۷ــ دوخت اهمیت :

دو باره دې را تله نشته په د نیا — نن دې وار دی که دروغ کړی که رښتیا
هرچار چه تر وخت تېره شي عنقا شي — عنقا نه نیولی په دام کښې د هیچا
تر وړخ تېری او به بېرته نه جار وزی — نه جار وزی تېر ساعت به بېرته بیا
تېر ساعت به مثال مړی د لحد دی — مړی چاری ژوندی کړی په ژړا
هره نېټه چه صحیح گڼه به زړه کښې — په اغر ور به هغه نېټه کړی خطا
په عمل د نیکو بدو فهم و کړه — چه به دا کښې دې بهبود دی که بدا
« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کا په وخت ویده وي
د هغه عالمو زړې د وښکو دی
«عبدالرحمان مهمند»

که د بېره سعیه کوښښ کړي څه شي
که هر څو مې په بېړی ملاح کا
په وخت چه نه کړي بې وخته څه شي
په ټانګې چه کښېوزي بوري هاله شي
«عبدالقادر خټک»

آبشاره! و لی دا همې ژاړې!
که تل فریاد کړې په کاڼي سروهې!
له چا فریاد کړي خوک بېسې غواړي
بیانه را نشي اوبه نڅه لاړې
«عبدالقادر خټک»

ګرل دی ویل دی دواړه اوان لري
چه کار د نن ورځې پرېږدي صباته
چه وخت یې تېر شي افسوس ارمان لري
هو ښیار به نه وي دا خوی نادان لري
«خوشحال خټک»

۸ - زړه

شه سړی پردی بدلاسه په نیکی خپل کا
کومه ښاغلی داده چه خوک بد کا زړه دیار خپل
«خوشحال خټک»

یو زړه د خوشحال ندی چه جهان پکښې ایده شي
د هر چا زړه مرآت دی صفائی ورله بویه
«خوشحال خټک»

دواړه ښکونه لکه تن دی
زړه یې چون او بېچکو دی
ښکار د تن جوړوي زړه
خوک دا غم نه ګڼي زړه
«خوشحال خټک»

خوږې زړه خاندی خوله دې خندا کا
مدار دهرې چارې په زړه دی
چه زړه دې ژاړي ستر ګې ژړا کا
زړه دی مفتی دی هره فتوی کا
«خوشحال خټک»

د باز ښکار او اطوار مشکل دی
... هم یې نشته ګنډل یې هم لا
په دا به یوه شي هر چه عاقل دی
که زخمي شوی د مینا دل دی
«کاظم خان شیدا»

منبرو سوځه په اور کښې شراب وڅښه
در ته وایم خود زړونو آزار مکړه
«عبدالرحیم هوتک»

که هزار شپه تقوی پرهېزګاری کړي
شه دې نشته چه مدام دل آزاری کړي
«عبدالرحیم هوتک»

قلب د مومن ګوره ملقب په عرش الله دی
زار زار جو یو چه د زړه په بازار بلوسي
«دالپوري حافظ»

چه د زړه تونو دنیا بخلو یې پروا وي
ترڅو که زړه د سړي بوسي څه ېکار
«عبدالرحمن مهمند»

و ګوري واړه کاروانه خپل کا
خو کېچه آرام ګټي د ښکو نام ګټي
مردان هغه دی چه کار دېل کا
د خو زو زړو نو دارو به تل کا
«خوشحال خټک»

نه سره سم دی واده مړونه    نه سره سم دی دهر چا زړونه
زړه هم هغه ګڼه چه اکه غرشی    که پاندې راشی هزار غمونه
«خوشحال ختک»

مرهم په زړه زده ډیر هارونه    دا نیا په ګل کړی نادان خارونه
په هره سوړه لاسونه مه منډه    یکښې په خوب کا خونی مارونه
«خوشحال ختک»

زړه دی دهر چا سره صفا وی    په چا ګرم مه شه که دې رضاوی
که څوک ناحقه اتا پرخاش کا    انده ونې مکړه ظفر به ستاوی
«خوشحال ختک»

په بدن کښې دزړه اهمیت

زړه په مثل د پادشاه دی    هر اندام دده سپا دی
ټول دده فرمان بردار دی    دی پادار دوی خدمتګار دی
کل اعضا یی مسخر دی    دده حکم ته مضطر دی
په فرمان یې خوله ویل کړی    لاس نیول ، سترګی کتل کړی
په بدن کښې ګوشت پاره ده    چه څکو چنوتې یی جثه ده
چه وی راست شی راست بدن شی    چه فاسد شی فاسد تن شی
پس چه شو صلاح فساد    تمامی په زړه بنیاد
ته مدام اصلاح دزړه کړه    په هیڅ وخت غفلت مکړه
زړه په مثل ګنجینه ده    د ګوهر و خزینه ده
ډیر پکښې دی جواهر    قیمتی نفیس نادر
اول عقل ښه ګوهر دی    د جمله نعمتو سر دی
بل ګوهر یی معرفت دی    زیات تر نورو په قیمت دی
نور علمو نه حکمتونه    واړه دی اوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده    د ګوهر و ګنجینه ده
پس لازم یی ده ساتنه    له جمله ؤ غلو ر هزنه
چه دښمن یی تالا نه کا    جواهر یی یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه غرقاب شی نور مژګان په نم دزړه    نور خراب شی خانمان په دزړه
عبث وای غم دزړه وبوالهوس ته    چه پوهېږی هلکان په غم دزړه
په بل مخ باندې سوا د یار له مخه    ما ترلی دی چشمان محکم دزړه
چه یی عرش او کرسی لاندې ترقدم دی    بالا تردی هسې شان قدم دزړه
دخلیل له کعبې ۱۰ کعبه ده اوره    که آباد کاڅوک ویران حرم دزړه
که نور خلق قدمونه ز دی په مځکه    مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامکان چه د آسمان مځکې ترمیان دی    یو خلوت دی دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له چا غوادم بې یاره    چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتی همدان ډیر دی په دنیا کښې    ولې نه مومی رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشه په ځای د شکر شکایت کړي! منکر پېژي په عطا د سبحان و اې!
دربنولي خدای د هري چه ري توان دي په دېر توان کښې خپل ځان بولي ناتوان ولي!
زړه دنفس په پیروی در څخه لاړو د خبیث په لاس دي ورکړو قرآن ولي!
« رحمان »

بنگ شراب سرود کوه عبدالقادره! خو یو مکره آ زړه د مسلمان زړه
«عبدالقادر»

مرده دل دي له تقره زړه بیرون کا یو ساعت په گور کښې نه پرېږدي خوك مړی
جمعیت چه لدنیا په نیا غواړي هغه غړی په معنا د شگو بېړی
«عبدالقادر»

هرخوك چه یو کا زړه خو له خپل دواړه دو یم به نیت شي ثابت له واره
که کمی ورغی په دین د نیا کښې تاوان یی واړه وزما به غاړه
«عبدالقادر»

هغه چه ستادي چه یی سائل نکړي ویره مي کیږي چه یی دپل نکړي
که دادي خوی دی دادي خصلت دی خپل به پردی کړي پردی به خپل نکړي
«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا بنه کیږي بنه کړه د دعا گته د دعا قبلیږي
ازار د هیچا د اخستو نه دي بنیږي د خوږ و زړو نو لگیږي
« خوشحال ختك »

لتو مه گنج د زړه په ویرانه کښې پروا نلرم د شهر په عسس
«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښی یو وار بیسی ولاړ نی لکه چیر ته لښکر دروی د سلطان هوست
« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بدخشان دی یا مشکل دی رغول د شکسته ؤ
« خواجه محمد بنگښي »

چه بهتر تر در گوهر دی هغه زړه دی چه پراخ تر هر کشور دی هغه زړه دی
مکرم په مخلوقاتو کښې انسان دی په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یی مه بوله بیحده مشرف دی چه د خدای باندي نظر دی هغه زړه دی
دمکی حج خو موقوف په یوه وخت دی چه مدام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر خو یی صفت وکړم څه به وکړم چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بیحده عالي شان دی چه تر ډېر خوبو خوبتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی دربار دی چه محل د در گوهر دی هغه زړه دی
څه سپالی به نیشکر ور سره کاندي چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د خولې په وېل حکم دقاضي دی        چه مقبول دخدای په در دی هغه زده دی
چه ظاهر وباطن دواړه یې روښان دی        چه دا هسې بلند لمر دی هغه زده دی
هیڅ اشیا یې له فتره بیرون نه دی        چه د درست جهان دفتر دی هغه زده دی
زه نبي به یې ثنا څه کم هنر بیان کړم        چه منبع د هر هنر دی هغه زده دی
« عبدالنبی »

دلجوئي به دې تمام وګړی و کړي        که ته هم د دلجوئي په جستجوی شې
« قلندر »

داپند له ما نه په زړه کښې یاد کړه        خو دې لاس رسي مروت د اد که ره
زړو نه د هر چا په احسان بنیاد کړه .        آزاد بنده کړه بنده آزاد که ره
« عبدالقادر خټک »

۹ – ژبه

ښو لا دي تور ه وي که لویه تبه !        تر دا لا بده ده بد ګویه ژبه !
ډېر یې بلا به د ر خځه وا و ړی        ژبه که بده کړې د پند طالبه !
« خوشحال خټک »

په واك چه نه اری په کلام کښې ژبه        که ګنګک شي ښه دی په لویه تبه
په بده ژبه ځان ځی جهان ځی        ایمان لا هم ځی و اوره طالبه !
« خوشحال خټک »

خوږه مړی ده که خو ږه ژبه !        چه خولا یې خپل کړی زما صاحبه
هنر هم دادی که دا هنر اری        چار به دې تل وی تر سیال غالبه .
« خوشحال خټک »

که هر څو ډېر یې تر صحبتو نه        علم ادب لری فصاحتو نه
لا به یې ژبه ډېر فهم و کړی        د ژبې ډېر دی قباحتو نه
« خوشحال خټک »

ژبه عادت که ره په ښه ویلو        چه دې عادت شی هغه تر تلو
که یې عادت کړي په بد ګوئي        مخ به دې تور کا تر ډیر دو خپلو
« خوشحال خټک »

په مرهم دخوشامند سره روغ مشه        هغه زړه چه پکښې تیغ دژبان کښېني
« پیر محمد کاکړ »

په مجلس کښې دمهرویو څه کهزاړی        شمعې هم څکا ره کو له بله ژبه
« عبدالله یوسفزی »

هر سړی چه شی ګویا لکه قلم        سر به یې شی له تن جدا لکه قلم
« عبدالله یوسفزی »

درست عالم به داخبره خبردار دی        چه بلبله خپلې ژبې په قفس که ره
« خوشحال خټک »

سلامت کاروان به تېر کړي له رهزنه
که جرس رنګه نکړي په غوغا ژبه

« ملاجمعه »

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده
فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده

چا يي پلو دجمال وانه خيست
پښتو لا هسې بکره پرته ده

«خوشحال خټک»

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده
صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده

چه ښه مې څير کړ ښه پرې خبر شوم
جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده

«خوشحال خټک»

جنګ دهانې او مزرې آسان دی
د خپلې ژبې آفت لا ګران دی

چه خپله ژبه يې به خپل فرمان کړه
هم يې رستم ګڼه هم لا لقمان دی

«خوشحال خټک»

که خوک نيکان دي که خوک بدان دي
پدادنيا کښې چه په هر شان دي

مه يې ستاينه کړه مه يې غندنه
نه به يې څه کړي چه دخپل ځان دي

« خوشحال خټک»

دهوښيارو ژبه پټه وي په زړه کښې
راز به نه وايي اشنا ونا آشنا ته

لېز اوده پر ويل به نکاندې بې ځايه
هيڅ باطل ويل به نه وايي و چاته

«خوشحال خټک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو
خبرې ښې دي ښه تر شکرو

دخوند مثال يې شکرې وايم
قدرې ډېر دي تر مرغلرو

« عبدالقادر »

لکه وهي له ميدان ګوی داخه ژبه
نه يې شي وهلای په تېره کړي شمشير ګوره

« عبدالحميد مهمند»

که دين دنيا غواړې پرده پوشي کړه
فتنې له خولې پاڅي نو خاموشي کړه

که نه خاموش يې نه پرده پوش يې
بې خوده پر يوزه باده نوشي کړه

« خوشحال خټک»

سخي به مه ګڼه چه نغن بې خوار نه وي
پاتوري مه بوله چه پرې پرهار نه وي

که دانشمند وي تفسير په ياد لولي
چه پر ويل کا دي به هوښيار نه وي

« خوشحال خټک»

ښې خبرې در ګوهر خاموشي مهر
دانا تل ځکه په خوله دغه خاتم نږدي

« عبدالقادر خټک»

د ميرو ميره دخانو خانه
د جهانيانو جان او جهانه

دا رنګ لويې به هاله روزي کړي
که وي نيک نيته او نيک زبانه

«عبدالقادر خټک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری — سیلاب تش لاس دی سیند امن پر لری
دسیلاب گېډه دکاڼو ډکه ده — بحر په گېډه کښې قیمتي در لری
«عبدالقادر خټک»

له خامي جوش وخروش څېزی له ډېگه — دی له خپلې پختگی پختگان چپ
په ابو بادې ډېوه شی دمراد بله — که صدف غوندې په صبر کړې دهان چپ
چه دانه په خاورو پټه شی خوشه شی — په گو گل دننه وساته ارمان چپ
دبلبلو ناري ښې نه دی پر گلو — چه په سر ولمبو کښې سوځی پتنگان چپ
لکه کاه او کهربا چه سره بولی — هسې پټه خوله بلل کاندې یاران چپ
«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کوه عبدالحمیده! — که په ژبه اوېزان شې لکه صبح
«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزماني کوه عظیمه! — مه له خولې نه څه وباسه مه څه وایه
«عبدالعظیم رانیزی»

صافدلان له گفتگو په خفه کېږی — شی نفس دآئینې پرمخ غبار سخت
«مرزا حنان»

۱۰ اخلاص:

گوره څه بلند مقام دی د اخلاص — چه جهان واړه غلام دی داخلاص
که له ځمکې نه اسمان ته ځاته گران دی — د اسفر په یوه گام دی داخلاص
چه خبر کا مخلصان له علم غیبه — داهمه واړه الهام دی د اخلاص
در واج د رسم عمر مدام نه وی — لکه عمر چه مدام دی داخلاص
بی اخلاصه حلاوت د اسلام نشته — که اسلام دی خو اسلام دی داخلاص
څه عجب دی که مستان وی تری چاپېره — هر ساقی ځکه چه جام دی د اخلاص
څه عجب دی که همای په دام نېلی — هر صیاد ځکه چه دام دی د اخلاص
درحمان کلام په داسبب شیرین دی — چه یې هر کلام کلام دی د اخلاص
« عبدالرحمان مهمند »

هر باغی بوزې بنده کاندې اخلاص — هر بې شرم شرمنده کاندې اخلاص
آب وتاب یې عالمگیر لکه افتاب شی — هر جبین چه تابنده کاندې اخلاص
هیڅ پروایې دحیوان په اوبو نه شی — هغه زوی چه زنده کاندې اخلاص
هیڅ مقراض یې غوڅولی په خوله نه شی — هر پیوند چه پائنده کاندې اخلاص
هغه کار چه سحر گر کاندې په سحر — تر هغه یې څوچنده کاندې اخلاص
سند لاسه زوړ کافر دلو کا او — واسلام ته خواهنده کاندې اخلاص
دنفاق له اهله ځان ژغوره حمیده! — په لباس بدې گنده کاندې اخلاص
« عبدالحمید مهمند »

هر باغی او هر سرشوخه هر بی شرمه
همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نیکي نوم په عالمګیر لکه افتاب شي
مغه څوك چه همیشه کاندي اخلاص
د نفاق دشپي تیاره به رڼا ورځ کا
چه سحر غوندي خنده کاندي اخلاص
که بي پښولره راتقی ملامت یم
که انسان لەدرنده کاندي اخلاص
« شمس الدین کاکړ »

۱۱ ــ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه راز په
هوښیار په څه یې وماته وایه !
هرچه هوښیار دی هنر یې دادی
خبره نه کا چاته بې ځایه
« خوشحال خټك »

د باد شاهانو به راز خبرمه شه
که یې خبر شي ځان ته غاورمه شه
رازیې دزړه په صندوق کښې وساته
په ښکارول یې چاته لر برمه شه
« خوشحال خټك »

که چاته وکړي دزړه خبره
تا کبد پیري و کړي چه وبي نغره
که دي خپل ځوی وي ګمان پري مکړه
چه به یې نه کا چاته ظاهره
« خوشحال خټك »

که بیځایه زر کې نه وښکي آواز
نه صبا د ځني خبرو ، نه شهباز
سکه لیه دي خبرې هسي معلومیږي
چه خپل صوت دی هر سري له غماز
دمنصور وحال ته ګوره حال ئې څه شو
خدای دي فاش دهیچا نه کاندي پټ راز
دریغه دریغه که وروستي عقل دومی وای
دانجام خبري نه شي په آغاز
چه منکر پري اعتراض کولی نه ئی
دا دشعر دی رحمانه ! که اعجاز
«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مایوښتي دیار له حقیقته
څوك دیار خبري کاندي واغیار ته
«عبدالرحمان مهمند»

خاص خلوت دښکلیو عام په وخت دخط شي
کم فوت سري لەهرچا سره راز کا
« عبدالحمید مهمند »

ځای په ځای په ستا دمال حساب کاوه شي
خپل اسباب د کاله مه ښیه مزدورته
«عبدالعظیم رانړیزی»

هوښیار به هر کله زمانه سازوی
په دانائی به یې د کار اغاز وی
نادان به هیچری به داخبر نه وی
په هرهر کار به یې بیځایه راز وی
« خوشحال خټك »

زړه بیځایه مه را باسه و بازار ته
وایه نشي په کوڅو دخلوت راز
«عبدالله یوبلزی»

منصور راز ظاهراوه سوئی ته وخوت
د خلا خبري کله په ملا شي ؟
« دالپوري حافظ »

## ١٢ـ زر :

اوس پەدا دور ماولیدل خوازەدی
نورو چار وو تە څە گوري دا گورە
څکەچەچە دآسمان بنایست پەزردی
شاهزادە بی زرو گوښی تنها گرځی
زور، قوت، حرمت هوري درومی چەزروی
هرمراد چەدسړی وی پە دنیا کښې

پە خالی کیسە بە نرسی تر کامە

کەهرڅومشکل کارونە درتەپیښ شی
ماچە وایدە خوازە دی پدنیا کښې

کەپتوی پەاوریخ کښې هم ترمیاشتی امرتیری کا

زردیچە ز برمە دننگ وشرم کا
دیر گران کارونەپە زر آسان شی

زردي هرچاتە أعجاز معلوم کا
وینځە میرمن کا خادم مخدوم کا

بادشاهان بندەدی پەځوانو زر بندی
زرسردا دواړه تو گو دیر گران دی

زرپە بدە ورځ پە کار وی
دزر دار بلا پە زرو
چە سپروی گذار پە سپر شی

چاومانە نصیحت کړ چە زرښە دی
چەپە کور کښې خزانې لری دزرو
هربادشاه چە خزانە ور څخە نەوی
هرسړیچە پەنام لوی پەدولت کم وی
پەامثال یی دهغې مرغی، مثال کړه
گورە مادهغه څرنگ ځواب ور کړ
ماوې مرد لره خونام بویە نادانە

تر پدر تر برا در تر پسر زر
چە صاحب دمسلمان کا کافر زر
ستوری زردی آفتاب زردیقمر زر
دهندو سره روان کا لښکر زر
دپادشاه پەسر څوك کښېږدی افسرزر
دطلب پە وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال ختك»

څه حاصل کە بوعلی شی پە قصو !
«خوشحال ختك»

فکرمەکړە چەآسان بە پە زر نشی
خوسړی دې یی پە مینە کا فرنشی
« خوشحال ختك »

همەعالم خبردی چەزر بندەدی لەدرمە
« خوشحال ختك»

صحبت د هرچا و بلـە گرم کا
زرپەفولاد کښېږدی فولادهم نرم کا
«خوشحال ختك»

معدوم موجود کا موجود معدوم کا
زرپەسندان کښېږدی سندانهم موم کا
«خوشحال ختك»

ځوانان پري بنه کا چەورتەسر بندی
یویوی و بندی نەیی هریو بندی
« خوشحال ختك »

هوښیار څکە ساتی زر
د نا دار بلا پە سر
چە سپر نەوی لاس شی سپر
«خوشحال ختك»

تو اول بەکا دزرو چە خبر دی
هغه کس کەیك تنهادی زورور دی
عاقبت ورڅخه تار پتار لبنکردی
پەمعنا بدر نگه ښځه سپین خادردی
چەسینه یی کشادە تن یی لاغردی
پري بەبوەشی هرسړی چەدا نشوردی
نە دزرو تولول چە بد هنر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هندوخخه انبار انبار مهران وی    په‌مهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که په‌خره‌باندې‌دزروصندق بار کړی    خر به‌هیڅ پداښه نشی خر خوخردی
چه‌هنر یی دلویی وینویه لاس کښې    دهغه وجود پارس شو وامه زردی
«خوشحال خټک»

ځکه‌نوم یی دزهب وربانديي کېښود    چه‌دباد غوندې هردم کا ګذرزر
«عبدالقادر»

که زده سخی اری چه مال یی نه‌وی    په‌ځان مې ولید څه حال یی نه‌وی
که باز داوامه هنر د ښکار لری    ښکار به‌په‌څه کوی چه‌بال یی نه‌وی
«خوشحال خټک»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه وینا کاندې چه‌یی وینه    دخاوند په‌لاس کښې‌زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی وینا یی اوری    ددرهم خاوندان تلوی په ویامونه
که‌درهم یی ځنی ورك شو شی نتلی    پر زړی یی وی په خرو پیژندونه
که‌یداي سونی(۱)وبولی خلق وایی    داوینا ده رښتیاینه له رښتـو نـه
که‌بې وزلې ووایی ر ښتیا خبره    نور خووایی دخوسونی‌دی تېرونـه
هو، درهم ښندی هرچاله لویـه برخه    ددرهم دخاوند هرځای پرتمونـه
درهم ژبه ده که خوك ژبور کېږی
ده وسله که‌خوك به کاندې قتالونه
«ابو محمد هاشم ابن زید السروانی البستی المتوفی ۳۰۰ھ»

چه‌نیستګاره‌شی که‌ځوی داحمدشاه‌ئی    ترتازیات په‌دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

❀ ❀ ❀

۱۳ ـ خپل قام :

هرسردارچه دخپل‌قوم دبدوخیال کا    آئینه‌دې‌دخپل‌ځان حال‌دجمال(۲) کا
پرې کوی ترخپلو ښو لاندې‌ښاخونه    چه‌بدی دخپل‌عزیز په‌زړه‌نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی    چه‌یی نفس دخپل بدوته لیوال کا
چه‌دبل‌و سرو مال وتـه هوس کا    ترهغه پخوا به‌ورك خپل‌سرومال کا
هم‌هغه به‌یـکښې پر بوځی دامتل‌دی؛    چه وبل وته کوهی کښی وبال کا
دهغو په‌خونه پېښ جنګ وقتال شی    چه‌هوس دچا دجنګ و دقتال کا
چه‌له خپلو لاس و ښو شی بی‌مجالـه    له‌غلیمـره به‌جنګ په کوم مجال کا
په‌پردو مړانه نه کېږی بی خپـلو    له‌لحده دااواز جمال‌جلال (۲) کا
چه‌تر خپله حده ښه غزوی وړاندې    زمانه به‌یی جمال غوندې پایمال کا
پردی نجره هیڅـانده خپله کـړي    بلـکه‌خپله به‌پرې بایلی چه‌داخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

( ۱ ) لغات ؛ سونی : دروغ
(۲) جلال اوجمال دوه نوموته اشارت دی . «خادم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴ ـ وطن :

دوطن ونې چندڼ اګر دی    خاوري يې واړه مشک و عنبر دی
که سرای ونورو وته سنګېړ دی    کانړي يې ماڼه واړه سره زره دی
« خوشحال ختک »

درزی لا ګزلری مقراض سوزن لری    بوجمدر ګوتې خو شحال خبرن لری
کوچ يې اسان دی مشکل هیڅ ندی    غم دیارا نو درد د وطن لری
« خو شحال ختک »

هغه ورځ دهجر غم لره سرا شوم    چه له یاره په ژړا ژړا جدا شوم
ما هله ماتم دځان وکړ په وینو    چه اتک وته مې شاشو په ژړا شوم
اوس په څه دوطن کانړي بوټي ژاړم    درخصت سلام مې کړي تري جدا شوم
یو ناوک مې په دل لګ راووړله کوره    زاروجار مې د باغ ونه کړ خطا شوم
په محنت مې یو ریاض جوړ کړی دهر    لا مې ګل بوی کړی نه څښي سوا شوم
شبن فلک په خندا سور شو له هوسه    چه هوړی جبل په مخزه ورته شاشوم
یو پامړو په دکن نشبه چه مې دم کا    ګرفتار په کنج و کاو داژ دها شوم
« اشرف خان هجری »

## د وطن په یاد

ستا دعشق له وینو ډک شو ځیګرونه    ستا په لاره کښې بائیلي ځلمي سرونه
تا ته را شمه زړګی زما فارغ شی    بې له تا مې اندېښني دزړه مارونه
که هر څو مې د دنیا ملکونه ډیر شي    زما هېر نشي داستا ښکلي باغونه
د ډیلي تخت هېرومه چه را یاد کړم    زه د خپلې پښتونخوا دغرو سرونه
در قیب دژوند متاع به تارپتار کړی    چه په تورو پښتانه کا ګذارونه
د«فرید»د«حمید»(۱) دور به بیا راشی    چه زه و کاندم په هر لوري تاختونه
که تمامه دنیا یو خوا ته بل خوا یې    زما خوښ دی ستاخالي تش ډګرونه
(احمد شاه بابا)

خوار غریب او بې نوا وای    خو وطنه ! ستا په خوا وای
وا ته غواړمه له هنده    چه وطن بسر خه زما وای
خو ژوندی یمه تر مرګه    هم هاغه آب و هوا وای
مېشته خو نږ یم په وطن کښې    نه چه هند وا ږه زما وای
نه دي هند شی نه دي نوم شی    هما غه پید پید یا وای
چېر هار کښې کلا شیخ وای    رزق الله او مشغولا وای
« خواجه رزق الله »

بې وطنه نها پروت یم په غربت کښې    نن له ما سره همدم د صنم غم دی
دهواداشنا په ستر ګو لیده نشي    که په خوب راته حاضر شی بس کرم دی
قاصدان له روهه رانغله مدت شو    سلام بادرا رسوی منت یې تم دی
« اشرف خان هجری »

( ۱ ) فرید : شیرشاه سوری · حمید : سلطان حمید لودین

ښکلي چونه دي زلفي باد ته نيسي
چه شمال يې بوي راوړي په رنتمبور (۱) کښې
« اشرف خان هجري »

خو به فخر د کشمير په دوشالو کړي
خو به خيال کړي په اطلسو د فرنګ
« پير محمد کاکړ »

نسيمه ورشه د « سرای » سواد ته
له هغه پسه افضل آباد ته
سلام م وکړه په دواړه لاسه
د رود پوارو ګل و شمشاد ته
« کاظم خان شيدا »

که ګذر به خير ابادو کړي نسيمه !
يادي ګيبت وشي د «سرای» دسيند په سيمه
په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه
ور سره زما د لوري به خو تسليمه
ابا سيند وته ناره وکړه په زوره
و لنډی ته و ينا و وايه حليمه !
ګوندي وي چه پيامي ستاسي جام روزي شي
په ګنګا جمنا به نه وو له قديمه
چه سړې او به دغره نشته په هند کښې
تري توبه که واړه ډک وي له نعيمه
خدايه زړه مې په وصال دهغه خوښ کړي
داچه اوس ورځني لري دي دوه نيمه
همېشه به په هند نه اوسي خوشحاله
عاقبت به عاصي ووزي له جحيمه
« خوشحال ختک »

نور جهان سفر شو باندي سرای دار القرار دی
کله به خوشحال دار القرار لره ور دروسی
« خوشحال ختک »

د خوشحال د زړه خوښي نشي بې سرايه
خپل وطن يې په هرچا باندي کشمير کړه
« خوشحال ختک »

د هواد ياران مې هر زمان يادېږي
چه ئې مخ په خوب کي ووينم وياړم
« خوشحال ختک »

ښه په هند کښې چنبا ګل دی
تر دا ګل د وطن خار ښه
د سرای قدر نور چا نه زده
په خوشحال دی ترفر خار ښه
« خوشحال ختک »

درزی لا ګزلری بيا ئي سوزن لری
يو جهدر ګوتې خوشحال خبرن لري
کوچ يې آسان دی مشکل هېڅ ندی
غم دیارانو درد د وطن لري
« خوشحال ختک »

## ۱۵ — مسلماني :

په دا دوه حرفه مسلماني ده
هرچه نه پسندي په ځان په چا مه پسنده
چه يې اوس به تواوله نه مرېږي
همدا خپل دولت به وکايه تا شنده
« عبد القادر ختک »

چه نه پسندي په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان
همدا ده که ته يې ګوري په صحي مسلماني
نيکانو سره زيست روزګار په مهر و محبت کړه
بدانو سره زيست روزګار هم بويه لساني
« خوشحال ختک »

په قوت به داسلام کړي
د کفار انکار غارت
« دولت لواني »

---

( ۱ ) رنتمبور ديو ځای نوم دی چه شاعر هلته بندی و « خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسلم نښانه داده که یی و پنښي
چه اول په شریعت دې استوار شی
« مرزا خان انصاری »

په مسلمو کښي خاصه مسلم هغه دی
چه یی وشلاوه زنار ددی دنیا
« عبدالرحمان مهمند »

## ١٦ ـ آزادی :

وهر چاوته چه وګورم فریاد کا!
په جهان به هیڅوك نه وی چه آزادوی
عقل وهوښ یی وړی وته پیدا کړ

روزه نه یم د جهان دی سینی خوږي
ځني عشق اندوبنده کړه ځني لوږي
داچیچل دا دل دیرانګ دی یادیږي
« خوشحال خټك »

چه سري شړومبی یی چښم په وخت داوړی
بادشاهی داورنګ زیب زماه غړ که
« خوشحال خټك »

دحاتم دسخاوت خبري مکړه
لا په دا کښي هم د طمع نښانه ده
« خوشحال خټك »

که یی ته په منت مومی وایی مخلمه
که دچا په باغ کښي بوټی د کیمیاوی
« خوشحال خټك »

دمغل منصب می پر بېبوده سي خوښ یم
دانا دره عقیده لکه زما ده !
دمغل وته به هسي کار بنکاره کړم
آزادی تر باد شاهی لا تیري کا

لکه خلاص داوبه بنده بند یوان شی
لا عجب که بل پیدا هسي افغان شی
چه راضی راځني روح دفریدخان شی
چه بل د حکم لاندی شی زندان شی
« خوشحال خټك »

چه نوکری کاڅوك دېر ګنده کا
تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته
سړی ازاد وی خپل ځان بنده کا
چه څوك په کور کښي خپله دنده کا
« خوشحال خټك »

طمع بلاده اصیل بنده کا !
ماډېر لیدلی دی چه طمع نه لری
نه نه سړی وی دائی ګنده کا
په بادشاهانو پوري خنده کا
« خوشحال خټك »

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان را باندي راشی که بهار
« رحمان بابا »

که دعقل څه اثر لري و سر ته
په نظر دهغو خاوره سره زر کیږی
بی منته جام د زهرو خکلی ښه دی
دیوسف له حاله زده که دغه پسه
دی فلك و چاته هیڅ بخښلی نه دی
که له خدایه دوي خلقو ته مخ شی
همیشه به در په در ګرزی ر تلی
ددي سست بدن منت په رحمان باندي

لاس په سرمشه دهر ګیدی ودر ته
هرچه نه لری نظر و سیم و زر ته
نه هغه چه منت بارشی و کوثر ته
وایه حال د زماني وبرا درته
چه یی نه دی را بېرودی ځني پېرته
له فردوسه به دي مخ شی و سقر ته
داستو ګنډي ځای به بیانه مومی چرته
چه له خپله دره تلی نه شی بل دره
« عبدالرحمن مهمند »

روځې کلونه : ( ٥٢٥ ) ب سردار محمد ح عبدی ... ر محمد امین ن رجب علی ه : ١ ... ١٩ - ١ - ٣٦ ع

زندګي که خوږ یو هېږي حضور ده دي … آینده و رفته کله دچا یاد وي

« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښي کړم د احمق سړي دمدحې … نه مې زړه مومي اندوه دده له ذمه

د زلفېږ و تور حلقو دي عذار و ېنم … که نسرین دې دي په زلفو کښې صنمه

« عبدالقادر »

چه مې شا کړه وښا دهوو ته ښاد شوم … چه د زړه مرادمې پرېښود په مراد شوم

اوس څه غم نه کړم له غمه بې غم ګرزم … راضي من چه دازل دويش په داد شوم

چه مې طمع د دنیا ور ځني بري کړه … هغه کس که کیکاوس زه کیقباد شوم

ځان بازبه ولي کاروڼه دیزېږ کا … له شېخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم

خدای مې بیا په کښې بندي مکړه ترمرګه … احتیاج عظیم زندان وه تري آزاد شوم

هم یې ځان له غمه خلاص کړ هم نیکنام شو … د پېرمین په وروستني ضرب دفرهاد شوم

بادي بوی عبدالقا دره سحر راوړ … شګفته لکه غنچه په د غه باد شوم

« عبدالقادر خټک »

چه خوښ له ګمه دلګیرله خاره دي … عشق له دو سینه بې اعتباره دي

نه شکایت کړم لچا ، نه شکر … در دمې ا ه یاره در رمان له یاره دي

« عبدالقادر خټك »

له بېخونده آزا دي شوسه دسر وي … د ګني پخېر پخو بنده بندي بیا

« عبدالحمید مهمند »

وزي تېزي پروت بخېل پوز کي ښه ئې . … نه په تخت د پاسه ناست دبل کره

دمنت پولاو دي زهرشه ! کې مو مي : … دمحنت سوی مکړك له سا ګټ سره

« عبدالحمید مهمند »

تخت وتاج ته به سر کوز د همت نه کا … چه په داد د دهر بوه آزاده مرد وي

« اشرف خان هجري »

دافقير دو لت به مرګه هسي هوس کا … لکه سپړي مسافر وخپل وطن ته

زېنار حلت په هسي ساعت ور کړه … چه دنیا وریانې نه وي وکفن ته

« دولت لواني »

آزادي او کارو بار دي سره اېري … لاس له کار وباره وباسه که کار کړې

« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزا ده وي تري قربان شه … باد شاهان دشام دروم که دختن وي

ماتول دبت آسان دي مرد هغه دي … چه مشغول دخپل وجود په شکستن وي

« عبدالقادر خټك »

## ۱۷ _ انسانیت :

پوي اصل سره دوه او پامند هبه … خدای په څه بني آدم فریق فرین شو

« خوشحال خټك »

خلق ناديده دي په خبر و پسي تللي — چار تر عار فانو چه په حال دي پوهيدلي
دوه او يا مذهبه پكښي هوموره قيل وقال — واړه سر هوا په خپل مطلب پسي دي تللي
د پردي كتابونه مشتمل په دېرش حرفونه — كل واړه كه گوري له الفه دي تحوولي
سل پسي سل سبق چه يي مات په يوه ځاى كړي — سل به بيل نه شي سره يو دي ماليدلي
واړه نور د نمر دي هم د ننه هم د بانه دي — هر چيرته دا نور دي په هر ښهر په هر كلي
زه خوشحال ختك يم در ندا نو په مذهب كښي — نور ويل مي نزده مختصر مي دي ويلي
« خوشحال ختك »

ب : بابيزه خويونه

١ ـ بدعادات :

عادت لا ړ شي عادت له سري نه — خداى دي نه كاندي په بد چار عادت څوك
« عبدالرحمان مهمند »
هميشه وي نرم چوب غذا د كرم — شيدا مشه مرد خالي له سياسته
« كاظم خان شيدا »
ستر گي يي سوزي دخس له نامردانو — كه همه لكه اېري آتش نسب وي
« كاظم خان شيدا »

٢ ـ بي پته خويونه :

يو چه ډېر خوري سوگندونه — بل چه ډېر كاندي پورونو
آشنائي ور سره كمه — دا بي پته دي خويونه
« خوشحال ختك »

٣ ـ كوزتيا :

نر هر څه بد كجئي خطر دى ! — كجي به نه كا چه دانشور دى
الف چه سم شي كجي يي نشته — ځكه تر نورو حرو فونو بر دى
« عبدالقادر ختك »

٤ ـ بدنيتي :

چه د بل په نامرادي كښي مراد غواړي — دا سبب گڼه د خپلي نامرادي
« عبدالحميد مهمند »

٥ ـ بدگوئي :

چواړي د حلال خور په نامه بولي — له خو خلقو بد گوئي نده ممكنه
ته چه بد له خلقو وائي زه و پرهيزم — چېري ي خپله بدي نكړي معينه
له هغو نه به دوميي ستا عيب څرگند شي — چه هر چا و ته دي كړېده خنده
« عبدالرحمان مهمند »
مه پر چا غيبت تهمت وا يه مه نښله — مه د بد نامه په هيڅ بني آدم زده
« دولت لواني »

٦ ـ بېکاري :

د جملو بلاوو سرتن اساني ده
لټ غوبي شي خرڅاوه په قصاب نو
فراغت د بېغمي په ملك كښ شته
څه اميد د بېغمي كړي طالبانو !
« عبدالحميد مهمند »

٧ ـ ډېر احتياط :

كل وسواس له احتياطه پيدا كېږي
زه له ډېري هوښياري نه لېوني شوم
« عبدالرحمان مهمند »

٨ ـ تذبذب :

كمال د كفر تر ناقص دين ښه دي
يا درست گمان ښه دي يا درست يقين ښه دي
چه كله د اشي كله هغه شي
دا نا ته كله مذبذبين ښه دي
« خوشحال خټك »

٩ ـ شخصيات :

د زړه غلا په زړه كښ غم ده
لا به تېر هه د سر دار
هر سر دار چه به زړه غل شي
ځان رسوا كا خلق خوار
« خوشحال خټك »

١٠ ـ ظلم :

باز چه وینی د ځیګر خوری مرگ يي زروي
له دي وينو ځان ساته زما ځيگره !
كه تر خه دي هم شراب د قهر نغره
ظلم وجور په چا مكړه ځيگر وره
« عبدالقادر خټك »

چه بېهوشي ډېره گېره پسي نر بلي
ډېر په ظلم كښ څوك مه كوه گبر گوره
ماشي مر كاندي هاتي چه سره تول شي
په يوه وجود يې كې مه گېره ډېر گوره
لږي لږي او به تولي شي ملك وران كا
په لږ جبر چېري نه شي دلبر گوره
« عبدالحميد مهمند »

باز كرگس شاهين جوړه تري په هوا شول
چه ثابت د عندليب شو په گلعذار حق
بلبلان طوطيان د فكر په تال ځانگي
خداى كړ پورته ا دي باغه د منار حق
« عبدالعظيم رانيزي »

خداى دي نه كا چا ته وازي د آزار خولي
دغه خولي ده په آزار كښ د ښامار خولي
په گړ كښ بخته برج هسي ميدان كړي
يا تو بو بدي خولي دي يا دو ياه خولي
د يوي خولي له آزاره وو پېر پېږه
كه پېر دي دعا كا نه دي هزار خولي
چه پېري راشي د مظلوم د آه سېلي
كاله خاورو ايرو ډكي د مدار خولي
چه قوصر د آه سر دور باندي لگي
ور به نشي د هغه چا د پېرهار خولي
چه اثر د مسيحا لري په دم كښ
خوږ و ي دي هغه خلق په گفتار خولي
ورخ به شي د غم شپه په هغه خلقو
چه پياب بي بد دعا كه هر سحار خولي
« عبدالحميد مهمند »

چه داغي يې سپين بشر په اور د ظلم
په لاس مه شه باز پرور د ظالمانو
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی
هم آزار دی پیغمبر د ظالمانو
چه نهال د ظلم کېږدی څنی لاړ شی
تر ویخ تر زهرو شی ثمر د ظالمانو
آزادی که دي پکار ده شمس الدینه !
له مجلسه کړه حذر د ظالمانو
« شمس الدین کاکړ »

هسی خوښ د ظالمی په کار و لاړ دی
نه به وایی مرګ یې نشته تل به ژوی
« خوشحال ختك »

ر سېد لی تر مطلبه به خود نه یی
چه خوړی د د مظلومو د سر وینی
« عبدالله بوبلزی »

۱۱ قهر :

ما نی مه کوه حنا نه صبر بو یه
جوړ کارونه خشموران کاندي تلوار هم
« مرزا حنان »

همیشه غوټه جبین یې ډك له کینه
له خپلوا و کورو کلی مرور یی !
« ملا جمعه »

د جهان کینې غصې واړه تر شا کا
که سړی په وخت دقهر مرګ تر زړه کا
دا پیدا چه خو د بینی ور څخه نشته
د جهان ننداري څکه دوه اېمه کا
په کینه په حسد هېڅ د چا و نشی
هر سړی چه حسد کاندی ځان او به کا
« خوشحال ختك »

۱۲ ـ تعجیل :

دانا وران کارونه جوړ په دانائی کا
په تعجیل سره نادان کاندي هم کار کج
« عبدالقادر ختك »

په هنر هنر خبري کړه دلبره
تېزی مه کوه په هیڅ کار کښې د سره
« عبدالله بوبلزی »

۱۳ ـ حرص :

په غم د نورو و غم نه ساز مه شي
سړی و عالم ته به خپل آواز مه شي
سړی په طمعه د بل بنده مه شی
د عا به دا کړم اخته په آز مه شي
« خوشحال ختك »

۱٤ ـ کبر غرور :

دغه زور به چلوې تر کو مه پوري
چه یوازې دي به ځان تمام جهان خوړ
تا چه تېز تېزه سمند د خود را یې
ما دا ستا دېر بواته هله ارمان خوړ
« عبدالحمید مهمند »

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی
په پلیتو او بو نه کېږی او د س
سبره ! هیڅ به تېتو و نو لو بی مکړه
ستا به هم دغه قامت کاندي روزګار کج
« عبدالقادر ختك »

### ١٥ ـ بېوفائي :

چه يې نه ويني وفا به رنګ وبوی کښې
زر که څه که مينه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحميد مهمند »

چه نه ننګ لري نه شرم مه يې غواړه
تو به و کا زه له ياره د بېوفا
« مرزا خان »

که يې اوی دزړه به وينو لکه ګل کړي
هم هغه به يې زړه در کاندي شنه تا نده
« عبدالقادر خټک »

### ١٦ ـ طمع :

څوک چه طمع له چا کا به حقيقت کښې
که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دي
« خوشحال خټک »

نه دی نفس لره جلب د ور کړو لو
امو خته در باندي غل او کا سېر مشه
نور قيدونه و اړه سهل دي حميده !
خو به غاړه دي د طمع زنځير مشه
« عبدالحميد مهمند »

له هغو ترخه ويل شي د حق پاتې
چه يه خوله کاندي خوږه حلوا د طمع
« عبدالحميد مهمند »

سړی توب به دي سپېڅوب کاندي دا طمع
عزت و سا ته به صبر که د انا يسي
هسې چارې به حرص در باندي و کا
چه به هيڅ شوي نه وی بيا به وايسي
« عبدالحميد مهمند »

کهدي زړه وی چه بلای شي طمعه پرېږده !
څو دي طمعه چاته شته توا نګر نه يې
« عبدالقادر خټک »

که ياس له حقه تحقيق حرام دی
ياس له مخلوقه د حق انعام دی
اصيل بنده کا خلاص شوی بند کا
طمعه له خلقو د خلقو دام دی
« عبدالقادر خټک »

شرموی هر يو سړی د دنيا طمع
دبې توب نامه حاصل کا به دا طمع
همت ناك سړي که خوار وی دولتمن دی
خاخکې ګوره نه کوی له دريا طمع
د هغه د شرم بوزه په مخ نه وی
چه کوی د نس د پاره له چا طمع
لکه څوك لوبی به خپله حيا کا ندي
هسې ما و نه بېکار پېژنی دا ستا طمع
لکه يو سپی چه هېڅ څښتی نه لرهغه سپي
هسې ده د يو له بل نا صلا طمع
د هغو د عزت پښه ده بنو ټينګه ده لسي
چه به دا زړه له چا کا ندي بيا طمع
تل دخواست لاس به يې نيولی دی کوڅه کښې
محمدی چه څوك کا بل ته پيدا طمع
د حاتم د سخاوت خبرې مه مکړه
لا پيدا کښې هم د طمعی نشانی ده
« خوشحال خټک »

### ١٧ ـ ريا :

در يا عمل مې طوق شو را تر غاړه
لکه خپور شي به ځيګر د ستار د چا
« شمس الدين کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸ ــ بدي :

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه    تور مخونه به دوزخ ته قاضیان د رومي
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا    شرمنده به د دوزخ په زندان د رومي

«مطیع الله پیرخیل»

ج: نصایح

دا همه به نا بوهي پیدا کیږي
پیر ځوي ، ښه سلوك ، نمانځنه ، اوبل عدل
کبر جن حریص بي زده چه دروغ وایي
که وعده یي قیامت وي د غو ښتني
که طالع یي ددولت په شربت ډك کا

خر خشي دعوي ناساري شر و شور
کېدي دا خویو نه شته څه غواړي نور
د یاری لایق نه دی دا خلـور
دهوښیار سړي به نه وي به کار پور
بیا آخر شي د کم عقل جام نسکور
«خوشحال ختك»

چه دخلقو نیکخواهي لري به زده کېږي
که یي غوږ د دانشمند په صیحت وي
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشي
د مردانو په معراج به ور تللی نشي
مختورن د دواړو کونو ندی څه دی
نیکبختان به اندیښنه کاندي د نیکو
په هغه هنر کېږي تړنګیځ او سه خوشحاله

مبارك شه بادشاهي لري به زده کېږي
څه عجبه آگاهي لري به زده کېږي
هر سړي چه تباهي لري به زده کېږي
که دسعي کوتاهي لري به زده کېږي
چه هر چاسره سپاهي لري به زده کېږي
گمراهان به گمراهي لري به زده کېږي
هر هنر چه سپاهي لري به زده کېږي
«خوشحال ختك»

په دوستانو تلطف کړه خو په تاشي
د نمانځه تر قضا گران دا قضا ده
نوراني کا هغه ځای چه سره کېني
چه په تشه تواضع کېږي گټه کیږي
که حاتم غواړي کرم کړي د مهرانو
خو بدانو سره بدشي هوموره ښه دي
که دي سرلځي کېدي مال ځي کېدي نورځه
په ظاهر باطن کفران دنعمت مه کړه
که راحت غواړي په ځان محنت قبول کړه
که دارو په خواست موندل شي مه یي آخله
که آسمان دي درمري په خوله کېږي ور کا
که ژوندون دي هم هغه دي په جهان کېږي

د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
چه قضا شي د خلور و مصلحت
دیرینه څلور هو ښیار په مشورت
هو مره سود نشته دڅك طباخ دست
دیوي دمړي په چا مه زده منت
ولي عفوه کرم ډېر لري لذت
استو ار اوسه په کار د رفاقت
هوا خواه اوسه دخپل ولي نعمت
بي محنته هیڅوك نه مومي را حت
که دمرگي وته نژدي کاندي زحمت
دزمري په خوله کېږي مه پرهېزده همت
چه یادېږي د سړي د خوی خصلت
«خوشحال ختك»

خپل استاد و ماته ووي خو پند ونه
وي چه هره بدي کړه هغه بد مه کړه
که دي زده وي چه بدنه موي له چا نه

هر یو پندي مرغلري دي لا لونه !
چه دلاسه دي آزار شي دچا زړونه
اول ته پرهېز ده د بدو خصلتو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شهوت په غوښتنه مه ځه شهوت اور دی
ته کینه، رخه، حسد له هیچا مه کړه
د هر چا سره د ښو سلوك بایده دی
د دنیا په مال دنیکو نوم حاصل کړه
د هر چا سره نرمي ملایمت کړه!
خپل پردی ته د خپل راز خبره مه کړه
خوشخوئي هر ګوره ښه ده نه دا هو مره
هغه کار چه په ارمي تر سره کیږي!
و هغو وته چه قهر کړي روا دی!
د هغو په مرګ ثواب ګڼلی بویه
که دښمن دي د پر زبون ته ځني دار کړه
د دښمن په تملق غلطي مه کړه
عاقبت به خپل ورغوي په غاښ پرېکا
چه دي لاس په دښمن برشي پرې يې مه ږده
په خپلوانو باندې هو مره خشم مه کړه!
د پاد شاه په مهر مینه غلط مه شه!
پاد شاهان چه په چا مخ کا دبدي
په هغې معشوقې څه باور د کړو دی
د پېغلې ياني خوره نه هغه پا ستي
د بد خوی سره هیڅ بدي ته مه کړه!
د کمذات په ښو خبر و غلط مه شه!
په هر کار کښې چه در پیښ شي بېړه مه کړه
په رښتیا که په دروغو وي سوګند مه خوره
د حرص سترګې مړې په قناعت کړه
که هر څو دي علم ډېر چه عمل نه کړي
د ښه دین د پاره علم، دانش ښه دی
په جهان کښې که مردان دی هم هغه دي
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملګیري در ځني پرېکا
که دي ورور وي که دي ځوی وي چه بد کار شو
چه بد فعل، اوبد غرض په کوم ځای ناست وي
چه په کالو وي مشران نه يې حرمت کړه
په هغه کور کښې چه ښځه چرګه بانګ کړي
هر چه شرع فرمائي په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دي زړه له وينو ډك شي و دښمن ته

پیدا اور د ډېرو سوي دی کورونه .
دازل په ورځ مقسوم دي قسمتونه
په بدي کښې څه فايده د کوم سودونه
ټل جهان و چاته نه پرېږدي مالونه
ګنډي وی چه پداخیل کړي دچاز ړونه
د بخچې دننه ښه دي خپل ر ختونه
چه په باغ کښې دې خرتبزي وهي خرونه
څه حاجت چه رسواوه شي تر جنګونه
چه اری د بدو فعل بد خو یو نه!
چه پای سوځي له شامته غاړې غرونه
په يوه شجرې و سوځي ښا رونه
درستم غونډې هم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ورمونه
دما رانو په غارمه منده لاسونه
چه پردي ورځني تښتي په منګونه!
زورور په لږ ګناه و هي سرونه!
و سپینډو نوته تېرل نه شي بند ونه!
چه په هر لوري یاران لری زر ګونه
چه بې خوري د نو کري په خوشر طونه
غلیمان ور له بس دي خپل خو یو نه
د ګېډې پر ؛ ونه خوازه لري ګلونه
په تلوار، سره ورانېږي جوړ کارونه
منافق وي چه ډېر د ډېر خوري سو ګندونه
چه په کور کښې دې انبارشي نعمتونه
نه حمار یې په تیا انبلی کتابونه
نه پیدا چه پرې لوټې پردي کورونه
چه و سختي و ته و نیسي لا سونه
د بدانو خو هم تور ښه وي مخونه
چه په لارې ترتا تېر درومي ستا ملونه
په ځیرو وی کاږه کړه ور مېږو نه
د هغو د نا ستي تښته په ګرو هو نه!
بيا هغه چه دي په ځای وي لکه ترونه
د هغو خونو نه ځی پر کتونه
مه عمل کوه په رښتیا دو دونه
هرزه کار په عمارت کاندي خرخونه!
انږو ډېر په زبان مه راوړه عمونه

په هر کار بهتر لاس بروی په ځوانی کښې    که طاعت که عبادت که نور کارونه
په ځوانۍ کښې چه د کار تلاسه وورزی    په پیرۍ به دی ونه رسی لاسونه
همیشه او سه خو له پته لکه ناوې    چه ضرور شی هالـه و کړه دوه حرفونه
تر هغه به نا معقول په جهان خوک وی    چه همیش په خنداسپین اری غاښونه
که خبره کـه خدا کړې جګې جګې !    هره چار تر حساب مه کوه بیرونه
که دې زړه وی چه بهتر عیب دې ښکاره نه شی    چا ته مه شماره د خلقو بتر عیبونه
که له تانه په قوت د متو زیات وی    له هغه سره حجت مه کړه بحثونه
چه توانیږې د هغې خبرې لاف کړه    او که نه په دروغه وهه لافونه
چه د ښمنو کښې د جنګو خرخشې وی    ته بی غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
که دی واورېدل چه بیا و بله روغ شول    نور په خپله وسله ووهه لاسونه
چه د ښمنو نه بتر دی هغه خوك دی !    چه د ښمنو سره کا مصلحتونه !
خدای هغه په دواړه کونه دی نماځلی    چه په ورځ کا عدل وداد په شپه نمځونه
چه دزړه په تمامین د هغو نازوړه    اهل نیاز منو سره وړی دی نیاز و نه
داصیل شیوه خپل اصل نه ابیاس دی    په زربافو کښې پیادم وی پیامری و نه

« خوشحال ختك »

په پیری کښې چه هوس دی د ناب کړي    بیهوده گمان په صبح د مهتاب کړي
داسته گناه کوي توبه و کاږي    لکه بت هسې په غټو ستر گو خواب کړي
علم و کړي بیاعمل وربانـدې نه کړي    لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړي
په شپه پروت بی دمغان په میخانه کښې    او د ورځې مخ په لوری دمحراب کړي
له خالقه دې نه شرم نه حجاب وی    له رحمان گوښه ونیسی حجاب کړي

عبدالرحمان مهمند »

کړد گلو کره چه سینه د گلـزار شی    اغزی مه کره په پښو کښې به دې لاړ شی
نه چه بل په غشو ولې هسې بوه شه    چه هم دا غشی به ستا په لور گذار شی
کوهی مه کنه دبل سړی په لار کښې    چیرې ستا به د کوهی په غاړه لار شی
نه چه هر چانه پخوارو ستر گو گورې    لا بو مبی به ستا صورت تر خاور وخوار شی
آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی    هر چه بل آزار وی هغه آزار شی
که نه نه کوی نظر د چا و عیب نه    هر سړی به ستاد عیبو پرده دار شی
د متان کړیه لوړه مځکه باندې هکا    سر کوزی کوه چه بیا دې مرغزار شی
د مات لوښی او از کله ثابت خېږی    د هر چا عمل خرگند پخپل گفتار شی
واذا حکمتم بین الناس راشه واوره    حق با طل سره جدا کره مه ئې نغاړه
مدا ماچه لکه باز غو ښې دقام خوری    عاقبت به شي بندی په پښو به غاړه
جوړ وی نوی قصر ونه خبر نه ئې    ان صبا دی ابادی و پنم و یجباړه
فکر و کړه وخت کو تاه دی و بیا لو یږي    د د نیا پر لانده بانړ باندې ولاړه !

« مرزا حنان »

تن چه صبح دی رو شانه لار صحیح کا
تا گهیا نه به دا صبح شب تار شی
لنږ ه نې مه گڼه هر څو که گناه لنږوی
چه لنږ لنږ و سره جمع کړی بسیار شی
که بل بد کا نه دی ته ښه ورسره و کړه
هر یو نخل چه میوه لری سنګسار شی
تل و ښو و ته آزار د بدو رسی
هر چنجی و نرم چوب و ته دوخار شی
هغه زده به له طوفانه په امان شی
چه کشتی غوندی د خلقو بار بردار شی
خدای دې بدله لاسه نه کا او که وی هم
در حمان دې له کل بد و استغفار شی
« عبدالرحمن مهمند »

اې مدام د بل په کمه روا داره
نیکی نه کوی بدی لره تیاره
قدم منږ د ه پر عاجز میږی په ظلم
نه چه دغه پښه دی و منبلی له ماره
هر چه ودی صباح بې راودی لنږ که دیروی
دا چه نن یی پستم اخلی له خواره
کبر مه کوه چه کبر پر خدای ښائی
چه رانده پدا شیطان شو له دربا ره
تکیه مه کوه پر مال فرز ندبی بسخته!
که دې مال که دی فرزند دی نا یکاره
دا جل صیا د طلب د استاد روح کا
ته طلب د مال اسباب کړی نا قراره
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښ
دی بهتر له هغه گنجه بې شماره
« مرزا حنان »

دیر به ستا په سبب خواب دراحت وکا
که دمهد په شان ورك دخان ارام کړی
« شیدا »

پند دی سو دمن واوره تور زنه
اسا نه نده د سر بنند نه
مصلحت مه پر ینږ ده د خپله لا سه
هم به خپل راز لری د زړه د ننه
« خوشحال خټك »

همیشه وائې چه خدای مې پیبنز ندلی په یکی دی
که دی خدای وی پیبنزندلی مینه مکړه په باطله
په خپل حسن غره مه شه که په حسن لکه گل شی
زمانه بهدی خپره په یو څو ورځې کا زائله
« خوشحال خټك »

د چا وخوان ته خالی کتل مکړه
که تل دی خوان خوری منت په بل مکړه
چه پری باور نځی هسی ویل مکړه
چه مال د بل شی هسی بیا تل مکړه
( خوشحال خټك )

منجم که در ته نحسه ادینه کا
یا طبیب و تا ته بدې کا شکرې
په جمعه به و نمانځه و ته و نوزې
له شکرو به هم گرزې اری لرې
په قران کښې چه شراب دی منع شوی
ته یی وائې لکه پی د مور نغرې !
« خوشحال خټك »

عاقبت به یی زده ترلاسه کړې حنانه!
لکه زلفې دنګار تواضع خوی کړه
« مرزا حنان »

لکه څان ژغوری بربنده‌له تېرو تورو     هسې خپل سرله ښېرو دسحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوړوی په باطن سپوروی     په‌ژبه خوږوی په زړه کښې شوروی

ور سره مه کښېنه تا به تباه کا     سپین زر که‌سپین وی اثر یې توروی

« عبدالقادر خټک »

له همه واړه عالمه صلح کل شه     وښوېدو خوشبویی ور که‌وه گل شه

تعلق په تېر ېد و نی هوس مکړه     په بهار کښې په ناړو لکه بلبل شه

« عبدالقادر خټک »

ځوك چه نرم وېل کا عمل یې گوره     تږگان دم په خوله وېل کا نرم نرم

« خوشحال خټک »

ښېتن مومل دی     اوس مویسر غل دی     هواد دبل دی

غازیانو گوری،     ښېتن مومل دی

توري تېري کړی،     د ښن مو پرېکړی،     منگلی سري کړی،

خله به تښتو     ښېتن مومل دی

که‌تېنگه کړو زړونه     بر بري یو نه     چه زمری یو نه

اسلام راغخه دی     ښېتن‌مومل دی

غازیانو را شی،     تول شاؤ خوا شی     دشهاب په ملا شی،

دښن موغوغ کی،     ښېتن مومل دی

« شیخ ملکیار غرشین ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب‌الدین غوری سره ؤ ، د غازیانو د تودولو دپاره درجزبه رقم ویلی دی . »

----

# دریم باب: پښتو او پښتونوالي

## ۱- مېړانه او توره:

مرد به نه شي په ګفتار — خو پیدا نه کړي کردار
چه دې و ښکنځي مرد نه یې — که له تا نه وي په ډار
چه څه دي خو انتقام دی — د مردانو کار و بار
عفوه هور ته ځای لرینه — چه نه عیب وي نه یې عار
چه عزت ور څخه نه وي — هغه مرد نه وي په کار
هم مهره لري هم زهر — ښه مردان دي لکه مار
چه هم تندر هم باران وي — تر هغو ځوانانو جار
مرد به غم دخپل هنر کا — نه د زر نه د دینار
مرد به غم کا دخپل شرم — د عزت د اعتبار
نامرد فخر په نسبت کا — مرد نه مور لري نه پلار
د خوشحال خبرې ګوره — لعل و در پېیي په تار

«خوشحال خټک»

یا د سپینې توري مرد شه یا عاشق شه — چه یا د پېغلې په پېد لو په سندرو
د خوشحال خټک خوښي په هغه وخت وي — چه بر ښنا د سپینو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټک»

د نامرد، د مرد په دا تفاوت وشو — په نامرد، شرم آسان دی په مرد ګران دی
مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي — که د سروبره دي نه شي کار آسان دی
کاشکي ته په دا دنیا همیشه پاته یې — به احتیاط احتیاط کښې د هر خلق طوفان دی
که د ځان که د ایمان بدخوامي د هر دي — ما په خدای باندې سپارلی ځان ایمان دی
ننګیالي چه د اخلاص توره په لاس کا — د هر لښکري د همت پوري کاروان دی
په ښادي سره شریك دي اولسونه — غم یوازې د خوشحال خټک په ځان دی

«خوشحال خټک»

مور دې نه شي باندې پوره — چه مېړه و نه د کارزار دی
څوك چه شته تر شرق تر غربه — د توره زنو خدمتګار دی

«خوشحال خټک»

درست پښتون تر قندهاره تر اټکه — سره یو د ننګ په کار پټ و آشکار
په داهسې وخت، چه وخت د نام و ننګ دی — دا بې ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دي — بې د توري خلاصي نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دي — که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار!

«خوشحال خټک»

مېړنو له تښتېدو شرم دی یو نسه !　　د نصیب له پېښې مانږوه جلب

« یونس »

څه سړی څه یې تدبیر !　　هم هغه شي چه تقدیر

که جهان شي تېره توره　　ستا به مرگ شي خلق خیر

بې تقدیره به و نه مري　　نه په توره نه په تیر

بې اجله مرگی نشته　　تیغ و هغه مکره تقصیر

لکه کار د مړني دی　　هسې کار نه دی د پیر

د غازیانو شهیدانو　　پروا نشته د سعیر

کل گټنه ده د توري　　که کابل دی که کشمیر

مړني دي چه یا د ښځې　　په سندر و هم په ویر

چه په دروغ د توري لاف کا　　د هغو نه یم د لکیر

توره نجره د خوشحال ده　　کال په کال خلق خبیر

تر اوو پښو یو پوري　　وا ده مړه په تیغ و تیر

دا د ځان ستاینه نه ده　　حقیقت وایم په څیر

« خوشحال خټك »

چه په توره یې ځواب ور کړی مردېده　　که وجوددی څوك آزار کاندی په چوب

« خوشحال خټك »

چه مېن په وسله نه وي　　مرد دی نه وائي خپل ځان ته

لاس دي سره کا سترگې توري　　ځان دی وجوړ وي ځوان ته

« خوشحال خټك »

باغ وي سرود وي نقل و شراب وای　　ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای

مجلس د خاصو کتاب په مینځ کښې　　نقل د تورو و خت د شباب وای

« خوشحال خټك »

د زنانو په حساب دی مردان مشه　　چه له زیبه له زینته هم آغوش وي

شړی ور پښتون به سل په د که یوسی　　کشمیری چه بفرگ شالونه یې په دوش وي

« خوشحال خټك »

د بلا ته د اختیار توره په لاس کښې　　وقضا وته تسلیم په شان دمړه یم

تند رهم زمانه ذاته نه پیدا دی　　په سپین زړه که د باران سپیني اوبه یم

« خوشحال خټك »

چه جنگیالی وی دولت هغه موومی　　چه ننگیالی وی عزت هغه موومی

دا د واړه تو کسی سره تړلی دی　　څوك چه محنت کا راحت هغه مو مي

« خوشحال خټك »

چه ځان غواص کا گوهر هغه مومی　　چه بې ننگی واخلی دلبر هغه مومی

دا کا رمې خوځله به ځان را غلی　　له سر چه تېر شي ظفر هغه مو مي

« خوشحال خټك »

ستار قیب کله زما په مخ را تلای شی    دمړو و جنگک ته نه د رومی عو رتي

« مرزا حنان »

چه زری شی میاشت آخره شپه را خېژی    پتوه ځان له عالمه په افلا س کښې
ښې ورښتني چامې خوی دار تپنو دی    دمړه مړانه نه ځی په کرباس کښې
له یارانو اخلاص تلملی دی حنا نه !    گذران د زمانی شو په لباس کښې

«میرزا حنان»

د میدان په ورځ چه تښته کا له جنگه    یا تې هیڅ نشی باقی له نام و ننگه
له میدا نه تښته کاردی د زنانو    مړ د به نه تښتی له غشی له تـفنگه
چه د تورو په بر ښنا یې وار خطا شی    مور یې مه وای په هغه غولا تی انگه
د ضرور په ورځ به تښته له گیدړ کا    چه همېش کاندی خوښی له نای وچنگه
د عزت صدقه سر د سر د نیا ده .    مړ نی به شرم سرور کا بید رنگه

«یونس»

## ملی وحدت

تو له یو دی که غلجی که ابدالی دی    ښه هغه چه یې شپېبه د زړه صفا ده
چه عمل یې د نیکۍ وی مېړه هغه    که اغوستي یې گد له د خامتا ده

«احمد شاه بابا»

## ٢ ـ ننگ او ناموس :

چه ننگ کا ننگیالی دی ورته اېښي دی دوه کاره    یا کام د ننگ حاصل کا یا د دوی مینه سپېرېږی

«خوشحال خټك»

چه د ننگ په چارو نر ندی خوشحا له !    که یې نر وینی په ستر گو هم ما ده دی

«خوشحال خټك»

کاشکې ځوان دې پښتانه په ننگ کښې مړوی    نه چه گور له روان شوم له تلتکه
چه دقام به ننگ کښې و مړ هغه ځو یه    په عالم کښې دخیل پلار غاړه کا لکه

«خوشحال خټك»

ځه یو ازې ننگ په ما را غلی نه دی    پښتانه د پر دی په غرو نه په سمو نه
چه شور وا خوری دمغلو واده سپی دی    د سگانو په خو له ځه اخلم نو مو نه
گور به هم په ژړا سر کړم که یې ور وړم    زه خو شحال د زړه دا هو مره المو نه

« خوشحال خټك »

چه د بل ننگ و ناموس سا تلی نشی    و به نه ساتی خو ك خپل ننگ و نا موس

« عبدالحمید مهمند »

دخپل رنځ د درد علاج را ځخه نه شی    په حکمت که ارسطو و افلا طو ن یم
د گلر خو په هوس شپې ر نـو مه    امو خـته لکه شبنم په دا شبخون یم
تلخ ویل پر رقیب خو کوي و ما ته    آخر زه شمس الدین ننگی لرم پښتون یم

«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وا نخلي له غلـمه انتقام | مرد نه خوب کا نه خواړه کانه آرام
چه د ننګ او د ناموس اندوه یې نشته | د هغه سرې به نه وي احترام
« خوشحال ختـك »

نام وننګ افغاني مې ولاړ بر هم شو | انصاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله یوبلزی »

واړه ننګ د پښتانه دی ګدا نه ځي | حال یې ورځ په ورځ زبون دی ستا په غم کښې
«خوند ګدا »

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره | یا به وخوري ککری یا به کامران شي
« خوشحال ختـك »

ننګیالی د ننګـد د یاره | په هر خه لګوی اور
سر په باد د سري پر سوزه | چه یې نه وي ژوندون نور
چه په نام و ننګ اډ نه وي | که تل ژوی مخ ئې تور
د جهان بـلا دې کل وي | خو دې نه وي ویې (۱) سپور
« خوشحال ختـك »

سر په دار لـاك شوی ښه دی
نه لـك شوی په پیغور

۳ ـ ټینګـښتیا

قول و بول په ژوندون نشي بدلولی | ځکه ځان په جهل و ژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

ځان به مر د عشق په جهل کړم ناصحه! | وا به نوډم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

د دنیا ناوې به بیا په نکاح نکړم | که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانړیزی»

زما خه بې اعتقاد د عقیده ده | چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ»

د مرد چه نه وي وینا محکـمه | په ده به نه شي در غلـه سمه
چه یوي زده وي سوه خبـره | خلاص وي له همه خلاص وي له غمه
« خوشحال ختـك»

٤ ـ ښه ځوانی :

جـار شم قربـان شم دپلار له پنده | راته یې ووې زمـا فرزنده !
لذت دور کړي تر ساتل دېر دی | خوی خیر ندی ممسك له خوند ه
« عبدالقادر خټك»

دلو یې په مقام به هـاله کښېني | که د ورکړي دمراني په وزرځي
«عبدالقادر خټك»

(۱) ویې : لفظ ، کلمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل ځان دپاره يم درم اسراف دی ... چه په بل خونه ښندې بی اسرافی ده

« عبدالقادر خټك »

تو اول کېږول دزرو ښځې کاندی ... ور کول بازل یی خوی خصلت دنرو

«عبدالقادر خټك»

چه شجاعت کا دنیا په کف لری ... نوم به دنیکو په هر طرف لری

هر چه حاصل کا دا د واړه خوی په ... هغه میراث دشاه نجف لری

« عبدالقادر خټك »

که ځوا نمردی بل آزار مه کړه په گلو ... ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف

«عبدالقادر خټك»

چه گټل خورول بخښل کا ځوان هغه ... چه تو ره لری د توری خان هغه

کان دلعل ودیا قوت و گوهر څه دی ... چه احسان تری پیدا کیږی کان هغه

چه نی ته په گېره وخوری حیطه شی ... د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه

که د مال دی که د ملك دی که د لیچو ... چه نی توان دچا یکار شی توان هغه

په تما مه شپه په ورځی مباشتی کال کېښ ... چه د خدای په یادو ور ومی آن هغه

چه د خوك دوړ اندی روستو ځی داخه شی ... په تنها وجود چه شان شی شان هغه

و نور چاو ته وران مه وایه خو شحاله ! ... چه قول عهد وران شو وران هغه

« خوشحال خان خټك »

که پښتو ن شی گدا گر د کل جها ن ... غگ نی تلملی دی ودی دی تریونان

هسی شه مهما ن نوا زه خلك نشته ... لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغان

که پهر در ته مرزی شی خوپه کور کښی ... له ادبه ځان میر نی کړی تابه خا ن

د هر چا ځای له چه ور شی بی تکلیفه ... کټ بو زی در ته تیار وی آش و نان

« میر احمد شاه رضوانی »

۵ ــ د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی په جهان را علم ... ماد هسی د ماغ سر نه دی را وړی

له اصلی نو لا د ه هله تیغ ر غیښ ی ... په وار وارچه ځنې لاړ شی و سنپخړ ی

« خوشحال خټك »

که زه گوری درد آشامو سره شماریم ... خوار هغه چه نی له ما سره آهنگ دی

هر ملخی دسر بازی هنر څه زده ... چه په دا هنر کښی سر ښندی پتنگ دی

لا تر او سه نی ما غزه په قرار ندی ... چا چه ما سره و هلی سر به سنگ دی

د گینډیو په ځیگر کښی نی گولی دی ... که لیدلی چا د ما د ښکار تفنگ دی

لا په خوب کښی په لرزه پر یوزی له کټه ... چه دچا ترغوږ زما د توری شرنگ دی

که په دا د رومی گو رې هغه زه یم ... چه می داغ په خاطر ایښی داورنگ دی

در ست جهان می و مغل و ته خیر کړ ... ځای په ځای نی پښتانه وته فلنگ دی

ځنی څه او یه دعوی لرم په زړه کښی ... ولی څه کړم چه پښتون واړه بی ننگ دی

خو طالع را سره هسې مدد نه کا
دخو شحال دزړه دحال ننداره و کړه

ګڼه تېر تر فر يدونه مې فرهنګه دی
که په تخت دپاچه کښېنی هم ملنګ دی
« خوشحال ختك »

چه زما د در وېزې په کچکول لحير شي

دحاتم په زړه به سهم د سوال پرېووت
« عبد الحمید مهمند »

هسې ر نګه له دې ها لمه تنها خوښ یم
تر هغه چه خشك طینت د صحرا و یښم
چه شاړ ه بی له اقمې و زی مګس شي
چه په شان د آفتاب نده ګرم رو یه
چه په قید یی د قفس کړم لکه زر که
که پیدا ر لکه تصو یر له خوا به نه شو

چه مدام لکه وحشی په صحرا خو ښ یم
لکه موج او ار ه په دریا خو ښ یم
کله زه د هغه خو ان په صلا خو ښ یم
ستا په سر که په سا یه د هما خو ښ یم
تر دا هسې خندا ز ه په ژړا خوښ یم
په دا حال له خپله بخته شیدا ! خو ښ یم
« شیدا ختك »

جهان شرم نام و ننګه دی
چه وفا و رخه نشته
چه یې عشق تر سر ه کړی
په بنا غلیو جهان ارت دی
چه خو شحال با ندې نا ستی کا

که دا نه وی جهان ر نګه دی
ګل به څه کړې چه خوشر نګه دی
نور څوك نشته خو ښتنګه دی
په غو و لیو با ندی تنګه دی
دا یو زی ندی او رنګه دی
« خو شحال ختك »

اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه سره زر وو
اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه زمری وو

په خپل دور واړه و ښه تېر کړ خپل وار
ز ه هم نه یم د ګیدړ و په قطار
« خوشحال ختك »

د حاتم غوندې مې خپل و حشم نشته
سخاوت مې په تقلید په ر سم ندی
په و ګړ ی مې خبر ې د مر دی شته

په عطا کښې له حاتمه برابر یم
زه له حا یه د سخی پلار پسر یم
په همت کښې په هر لو ری نامور یم
« خو شحال ختك »

هر چه کاندی نو کری د باد شاها نو

خا مخا به د دربا نو منت با روړی
« عبد الرحمان مهمند »

مطیع الله له موره پلا ره هم سوال مکړه

سل بلا شر مندګی دی په سوال کښې
« مطیع الله پیر خیل »

در و یز ه له در و یزه ګرو نا کسی ده
چه رښتیني سیده صاف نه وی حمید ه !

د فلك کچکو ل ته مه ګسه , کچکو ل
بو لی بو لی غا فلا ن دا هسې بو ل
« عبدالحمید مهمند »

هسی فخر شمس الدین کاندی به عشق کښې

لکه فخر کړی پښتو ن په خپل نسب
« شمس الدین کاکړ »

دروغ ویل هغه کاچه یی وېره وی یاطمع

خوشحال په دا لړ نه دی حق به وایی خو یی سر شته
« خوشحال ختك »

روڼې کتلونکي (۰۲۰) ح: سردار محمد : ح : سراج الدین : ر : محمد امین ن : رجب علی : ه : اجرائیه پښتو ټولنه ۲۶-۲-۲۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**